# دویمه برخه

# ناول

# طب محصله

لیکوال: عبید ژوند

**Pashto_novels** TELEGRAM

لومړۍ مسیج مې یې خلاص کړ ، چې دروازه وټکېده.

موبایل مې ژر جېب ته کړ او دروازې ته ورغلم.

ترور او د ترور خاوند مې وو.

سترې مشي مې ورسره وکړۀ ، ورته مې وویل: دننه راځئ.

د ترور خاوند مې وویل: دوی مې راوړل ، زه زه ځم ، ضروري کار لرم.

ډېر ټینګار مې وکړ ؛ خو پاتې نشو. خدای پاماني یې وکړۀ او لاړ.

ترور ته مې وویل راځئ ، زه وړاندې هغوی راپسې شول ، سیده د مور کوټې ته لاړو.

په مور مې غږ کاوۀ ، چې ترور مې وویل: مه یې راویښوۀ ، پریږدۀ ، چې ارام وکړي ، خپله به راپورته شي.

خبره مې یې ومنلۀ او پر چایو لګیا شوم. ترور مې په خپلې کوچنۍ لور غږ وکړ: سپلۍ ، هله چای ته تیار کړۀ.

هغه له ځایه پورته شوۀ ، بېرته مې کېنوله او ورته وویل: زه یې تیاروم ، داسې تکړه یم ، چې کیسې یې مه کوۀ ، ته مې اوس خالي ګورۀ. مګر مور یې شله وه.

دواړه لګیا شوو ، چای مو تیار کړ ، چې مور مې هم راویښه شوۀ.

ترور مې کټ ته ورپورته شوه ، ټینګه غاړه یې ورکړۀ او ورته یې وویل:

زه خو نه وم خبره ، چې ته داسې ناروغه یې ، نن راته د سپلۍ دوی پلار وویل ، ستا مشر زوی یې ښار کې لیدلی وه ، هغه خبر کړی وو.

مور مې ورته وویل:یو ناڅاپي خبره وه ، د غرمې ډوډۍ مې پخوله ، چې بیخي پر ځان نه یم پوهه شوې ، بیا دوی شفاخانې ته وړې وم.

ترور مې وویل: ښه شکر دی ، چې هر څه پخیر تېر شول او اوس ښه یې.

دوی پر کټ کېناستې ، ما خپل چېټر راواخیستل ، کوچني ورور ته مې وویل: ته همدلته اوسۀ ، زه لږ درس لولم ، که څه شی وو ؛ نو زنګ راته کوۀ.

سمه ده یې وکړل او زه د باندې راووتم.

د کور مخې ته پر ويالې ايښې پله باندې يوه ډله ماشومان ناست وو او پښې يې لاندې اوبو طرف ته ځوړندې کړې وې.

ورته مې وويل: ماته لاره نه راکوئ ، چې تېر شم ؟ ټول پورته شول او لاره يې راکړه.

د کلي لوی خوړ خوا ته روان شوم ، ځکه هلته د اوبو د منعه کولو لپاره لوی سيمنټي ديوال وهل شوی دی ، تر څو اوبه ځمکې تخريب نه کړي او دېخوا پټيو ته رانشي.

دا ځای د مطالعې لپاره تر ټولو مناسب دی ، يو خو دا چې د خلکو ګڼه ګوڼه نه وي او بل د طبيعت ښه ننداره ترې کېږي.

غنم شنه وو ؛ خو د ځمکې مخ يې نه وو پټ کړی.

ځای ، ځای به مرغان پکې کېناستل ، چې زه به يې وليدم ؛ نو بېرته به ولواتل.

ټاکلي ځای ته راورسيدم ، خپل دسمال مې راته د ديوال په سر هوار کړ او کېناستم.

شاوخوا مې وکتل ، لرې ، لرې يو نيم کس معلومېده ، بيا مې د څو شېبو لپاره خپل نظر په بهېدونکو اوبو واچوه ، له لوړ ځايه ښکته تويېدې ،

خوند يې راکړ ، په موبايل مې يې څو تصويرونه واخيستل او بيا مې ساعت ته وکتل ، ناوخت وه. موبايل مې بېرته کيښووده او د نړيوالو اړيکو کتاب مې راوخيست. تر کومه ځای مې چې لوستی وه ، پاڼه مې ټوله کړې وه ، هماغه ځای مې راوړوه او مطالعه مې پيل کړه.

تقريباً يو ساعت به مې کتاب او نوټونه لوستي وو ، چې د کوچني ورور زنګ راغی ، ويل يې: ډوډۍ تياره ده ، له دوکان څخه لږ مستې درسره راواخله او راځه.

کتاب مې بند کړ ، دسمال مې وڅنډه او کور ته روان شوم.

ورځ تېره شوه ، ماښام ناوخته هيلې زنګ وکړ او د مورجانې پوښتنه يې کوله. ورته مې وويل: اوس بيخي ښه ده ، نن مې ترور دوی هم راغلي دي.

هغې وويل: شکر دی ، چې ښه ده ، اوس لږ کار لرم ، بېګاته که دې وخت پيدا کړ ؛ نو سره غږېږو.

ان شاءالله مې وویل او اړیکه مو پرېکړه.  اذان وشو لمونځ مې وکړ او د مور کوټې ته لاړم ، لا ناست نه وم ، چې زنګ راغی ، نمبر ته مې وکتل ، د نرسې وو.

له کوټې بېرته راوواتم ، موبایل مې اوکې کړ: سلام یې وکړ.

ځواب مې ورکړ.

بیا یې د مور پوښتنه وکړه ؟

ورته مې وویل: شکر دی ، اوس خو بیخي ښه ده.

هغې وویل: دوا دې نه قضا کوي.

ورته مې وویل: مور مې ښه ده ، دوا پخپل وخت خوري ، بیخي یې نه پرېږدي.

ښه یې وکړل او بیا یې زیاته: کله نا کله ناروغۍ وي ، زړه ورته مه خوره ، ان شاءالله مور دې ښه کیږي.

ورته مې ووې: د خدای چارې دي ، مور انسانان به صبر پرې کوو.

هغې خبرې اوږدولې ؛ خو ما نه غوښتل.

راته یې وویل: لکه چې مصروف وې ، که کومه ستونزه وه ؛ نو دا زما نمبر دی زنګ راته کوه.

مننه مې ترې وکړه او ورته مې وویل: حتماً زنګ درته کوم.

ما اړیکه پرې کوله ، چې هغې بیا غږ وکړ: اې رېښتیا غرمه مې درته مسېجونه لیږلي وو ، لکه چې نه دې وي لیدلي ځواب دې یې رانکړ.

ځان مې دغسې وښوده ، چې هېڅ مې لیدلي نه دي ، بخښنه مې وغوښتنه او اړیکه مو پرېکړه.

مسېجونو ته مې تلوسه شوه ، چې څه شی به یې لیکلي وي. پیغامونو ته لاړم.

لومړۍ یې سلام او پوښتنه کړې وه.

بیا یې نور داسې لیکلي وو:

په شفاخانه کې ما ډېر خارلې ، غوښتل مې ډېرې خبرې درسره وکړم ؛ خو تا هېڅ نه راکتل ، چې وبه دې لیدم ، سترګې به د ښکته واچولې ، زما دې دغه ښه والی او اخلاق لا نور خوښ شول.

زه که مسېج کوم او که زنګ وهم ؛ نو صرف په همدې خاطر به وي ، هیله ده نور په زړه کې څه درتېر نشي.

وروستی هغه یې داسې لیکلی وو: کله نا کله ته هم پوښتنه کوه ، زه به زیاته خوشالېږم.

له ځان سره مې وویل: که زه زنګ وکړم ؛ نو خبره به په لوی لاس خرابه کړم.

بیا د هیلې هغه خبره په ذهن کې راګرځېده ، چې د شپې مهال یې د خدای په امانۍ پر وخت راته کوي: "سترګې دې ښکلوم ، ښه شپه ولرې.

خواږه خوبونه ګورې ، چې بغېر له ما دې بل څوک په خوب کې رانشي ؛ ګنې وژنم دې"!

هغه چې په خوب کې څوک رابانددې نه ویني ؛ نو په ویښه خو تیاره لانجه ده ، پرېکړه مې وکړه ، چې هیلې ته به دغه خبره کوم ، ځکه هغه خو هم په یوه شفاخانه کې کار کوي ، هسې نه کومه ورځ دغه خبرې په غلط ډول ور ورسیږي ؛ نو لوی جنجال به جوړ شي.

شپې د ورځې لمن ټوله کړه او په اسمان کې یو ، یو ستوری ښکاره شو.

ما همدا د نرسې د مسېجونو او زنګونو چورتونه وهل ، چې مشر ورور مې رابانددې غږ کړ: څنګه ولاړ یې ؟

د سوچونو نړۍ مې ورانه شوه ، ورته مې وویل: ټولګیوال مې زنګ کړی وه ، د ازموینو په اړه مو خبرې کولې.

ښه یې وکړل او د کوټې په طرف روان شو. زه هم ورپسې شوم.

مور مې د باندې راوواتهٔ ، پوښتنه مې ترې وکړه ، چې څه کوې ؟

هغې وویل: همدا تا پسې راغلم ، ترور دې له نورو شیانو پرهېز دی ، یو کوتی شیدې ورته راوړه.

په بیره دوکان ته لاړم شیدې مې راوړې.

کوچنی ورور مې او سپلۍ په ډوډۍ تیارولو لګیا وو.

ما د شیدو کوتی خلاص کړ او په جام کې مې واچولې ، ګاز ډبې ته مې اور ورکړ او جام مې پرې کیښود.

مشر ورور مې دسترخوان هوار کړ ، ډوډۍ تیاره شوه. شیدې هم ګرمې شوې ، پیاله مې ترې ډکه کړه او د ترور مخې ته مې کېښوده.

ترور مې وویل: شکر خدایه ، وراورنه مې دغه دي لوی سړي شول ، غریبه به هم ختمې شي.

مور مې وویل: کله چې یې پلار مړ شو ؛ نو داسې فکر مې هم نه کاوه ، چې دوی به لوی وي ، بیا به تعلیم او وظیفې کوي ؛ خو خدای چې وغواړي ؛ نو هر څه کیږي.

ترور مې وویل: ښشکه ، هر څه د الله په لاس کې دي.

ډوډۍ مو وخوړه.

ما مې ترور ته وویل: تاسې کیسې وکړئ ، زه به لږ درس ووایم ، بل سبا مې امتحان ونه دي ، هېڅ درس مې نه دی کتلی.

هغې وویل: هله زویه ، ورځه.

چپټر مې راوخیستل او د ځنګ کوټې ته لاړم.

ښه شېبه مې مطالعه وکړه ، چې ساعت ته مې وکتل ؛ نو څه کم لس بجې وې.

موبایل مې راوخیست او هیلې ته مې زنګ وکړ.

له لومړۍ ټالۍ سره سم یې اوکې کړ: په خندل مې وویل ، لکه چې تیاره ورته ناسته وې ؟

هغې هم وخندل او زیاته یې کړه: زړونه مو یو دي ، لږ مې درس ولوسته ، اوس چې مې موبایل راواخیست ، تر څو زنګ درته وکړم ؛ نو زنګ دې راغی ، ځکه مې ژر اوکې کړ.

ورته مې ووې: زړه په زړه اینه ده ، ریښتیا سلام څنګه یې ؟

وعلیکم سلام یې وکړل او ویې ویل: شکر دی ښیخي ښه یم ، ته څنګه یې ؟ مورکه څنګه ده ؟ له دوا سره یې کوم فرق شوی او کنه ؟

ورته مې وویل: الحمدالله تر اوسه خو ښه یم او مورجانه هم ښیخي ښه ده ، هغه د پخوا غوندې عادي حالت ته راګرځېدلي ده ، ته څنګه یې ، درسونه دې ؟

هغې وویل: بس ګوزاره روانه ده ، درسونه مې هم ښه دي ؛ خو نور یې له ژونده وویستم ، بل کار نشته همدا درسونه او درسونه.

ومې خندل او بیا مې وویل: ما ویل که یوازې زه ترې شکایتونه کوم ، دا خو له ما ته ډېر سر ټکوې.

هغې وویل: خود نو ، همدا چې په ښه بده پوهېدلي یم ؛ نو پکې لګیا یم ، ودرېږه ، چې نور به لا څومره وي ، ته خو بختور یې ، څلور کاله دي ، دغه دی یو تېر شو.

د خبرو په منځ کې ورولوېدم ، اې ریښتیا خبره یې ؟

ویې ویل: نه ، ته به مې خبره کړې.

د نرسې کیسه مې ټوله ورته وکړه.

هغې: اوږد امممممم وکړل او بیا زیاته کړه: دا ومنم ، چې ته نه غواړې ؛ خو هغه زنګونه او مسېجونه کوي ؟

دا ماته ولې څوک زنګ نه کوي ؟ دا زما نمبر ولې څوک نشي پیدا کولای هنن ؟

پټ مې اخ وکړل او له ځان سره مې ووې لکه چې لانجه جوړه شوه.

هغې بیا غږ وکړ ، د نرسې مېړه څنګه غلی شوې ؟

ومې خندل ، چې خبره مې کوله ، هغه راوړاندې شوه. داسې ښه راته خاندې ، زما د مرګ د اورېدلي وو ، که څنګه ؟

ورته مې وویل: ته خبرې ته غوږ ونیسه ، چې زه څه وایم.

هغې وویل: نور به څه وایې ؛ خو دا چې نرسې سره مې ملګرتیا ده او ته مې نه یې خوښه.

له ځان سره مې وویل: ملامت یې ، اوس چې څه وایې باید ویې زغمې ، ولې د خبروله ، هغه لګیا وه او زه غلی.

بیا یې رابانـدې غـږ کـړ: غلـی کېـږهٔ مـهٔ ، ووایـهٔ ، هغـه څـوک ده ؟ ولـې درتـه زنګـوه او مسېجونه کوي ؟

ورتـه مـې وویـل: صـفا خبـره مـې درتـه وکـړهٔ ؛ خـو تـه پـه خبـره ځـان نـه پوهـوې ، کـه مـا غوښتل چې ورسره وغږېږم ، بیا مې ته نه خبرولې.

هغې وویل: هو زه ماشومه یم ، چې ته به مې غلطه کړې ، نمبر یې له کومه کړ ؟

د نمبر په اړه مې هم هماسې کټ مټ ورته وویل ، چې څه ریښتیا وو.

بیـا یـې وویـل: نـورو شـفاخانو تـه بـه هـم تللـی یـې ، تـر اوسـه کـومې نرسـې درنـه نمبـر اخیستی ؟ د هغې یې ستا له نمبر سره څه ؛ خو ورسره دې زړه دی.

ماتـه یـې هـم غوسـه راوسـتهٔ ، لـږ مـې اواز لـوړ کـړ ، ورتـه مـې وویـل: تـه خپلـې بـابولالې غـږوې ، زمـا خبـره نـه اورې. کـه مـا غوښـتل بیـا مـې تاتـه نـه وې ، پـه خبـره پـوهېږې او کنه ؟

غلې شوه هېڅ یې ونه ویل. بیا مې پرې غږ وکړ ، تاته وایم.

پـه غوسـه یـې ځـواب راکـړ ، ماتـه هـېڅ مـه وایـهٔ ، نرسـې تـه یـې ووایـهٔ او اړیکـه یـې پرېکړهٔ.

بیا مې زنګ پسې وکړ ؛ خو پورته یې نه کړ.

څو وارې مې مسلسل زنګونه وکړل ؛ مګر هماغه خبره وه ، نه یې ځوابوهٔ.

موبایـل مـې پـر توشـک کېښـود او پـه چورتونـو کـې لاړم. څـو شـېبې وروسـته موبایـل تـه زنګ راغی.

چې ومې کتل ؛ نو سلیم وه.

خبرو ته جوړ نه وم ، ځواب مې ورنکړ.

وټساپ مې خلاص کړ ، هیلې ته مې مسېج وکړ ، مګر افلاین وه.

بیا مې زنګ پسې وکاته ؛ خو دا ځل یې بیخي شمېره بنده وه.

ماته هم غوسه راغله ، موبایل مې لرې وغورځوهٔ او په کټ کې اوږد وغځېدم.

خوب کله دومره تکړه وه ، چې زما سترګې یې پټې کړې وای.

بس همدا چورتونه وو.

تـر ډېـره د خـوب هېڅ خـرک ونـه لګېـده ، ساعت تـه مې وکتـل ، څـه د پاسـه يـوه بجـه وه.

راپورته شوم ، د بام سر ته وختم.

سپوږمۍ نيمه په وريځو کې پټه وه ، لاندې د کور تر څنګ يوه ډله سپيو غپل.

اسمان ته مې وکتل ، داسې راته ښکاره شو ، لکه دده چې هم زړه ډک وي.

وريځې ختيځ خواته رواني وې ، سپوږمۍ ځان کش کوۀ ، چې ترې ووځي.

د کـور تـر څنـګ پـه وياڵـه کـې بهېـدونکو اوبـو مـې فکـر ور واړوۀ ، شـور يـې داسـې وه ،لکه څوک چې سندره راته زمزمه کوي.

لـږ وروسـته رڼـا شـوه ، نـږدې هـر څـه ښـکاره کېـدل ، اسـمان تـه مـې وکتـل ، سـپوږمۍ لـه وريځو وتلې وه او خپله ښکلا يې زموږ ننداره ته ايښې وه..

تـر ډېـره همدلتـه ناسـت وم ؛ يـو وخـت مـې سـاړه وشـو ، نـور نـو کېناسـتل راتـه سـخت شول ، بېرته کوټې ته راښکته شوم.

موبايل مې راواخيسته او د کوم سندرغاړي په غږ مې دغه سندره چلند کړۀ:

"سترګو دې له مانه بيا خوبونـه وړي

شپه مې شوګيره ده څه د په ما کړي"

سـهار تـه نـږدې مـې خـوب سـترګې راپټـې کـړي وې ، چـې بېرتـه مشـر ورور رابانـدې لمانځه ته غږ وکړ.

ژر راپورته شوم ، اودس او لمونځ مې وکړل ، د مور کوټې ته لاړم.

مـور مې راتـه وويـل: زويـه ، لکـه چې تـر ناوختـه د درس وايـۀ ، سـترګې دې داسـې سـرې دي ، ځان د بې خوبه کړی دی.

ورتـه مـې وويـل: نـه مورجـانې ، وختـې ويـده شـوم ، نـه پـوهېږم ولـې مـې سـترګې سـرې دي.

چای ته مې زړه نه کېدهٔ ، هیله مې پر ذهن همداسې ناسته وه ؛ خو په زور مې نیمه پیاله چای وڅښهٔ ، د باندې راووتم.

هیله پسې مې زنګ وکړ ، مګر شمېره یې بنده وه.

وټساپ مې وکاته ؛ خو هلته یې هم ځواب نه وو.

حیران شوم ، چې اوس څه وکړم ؟

موبایل مې جېب ته کړ او له کور د باندې راووتم.

هوا یخ وه ، لمر لږ ځان ښکار کړ او شاوخو یې سورخي وبرېښنده.

د پټېو لور ته روان شوم ، د شنو کوترو سېلونه راتلل او لاندې به په غنمو کې کېناستې او ځینې بیا الوتې.

ښه شېبه وګرځېدم ، لمر مکمل راوخوت او ډېر خوږ لګېده.

ونې ته مې ډډه ولګوله او لمر ته کېناستم.

د هیلې بېګانۍ خبرې مې یوه ، یوه په ذهن کې تاوېدې او له ځان سره مې ویل: څه اړتیا وه ، چې خبروله دې.

په همدې چورتونو کې وم ، چې نعیم کاکا رابانـدې غږ وکړ: الهامه زویه ، ډېر ګرم لمر د پیدا کړی.

د سوچونو له نړۍ راووتم ، ورپورته شوم ، ستړې مشې مې ورسره وکړل او بیا مې ورته وویل: نعیم کاکا ، کله نا کله سهار دلته راځم ، د پټېو چکر ډېر خوند کوي.

هغه خپله بېلچه په لښتي کې ودارولـه او لـه ځان راتاوو کړی څادر یې هوار کړ او پرې کېناست او بیا یې وویل: دغه موسم ډېر خوند کوي ، زه هم نن وختي د غنمو په اوبو کولو پسې راښکته شوم ؛ خو اوبه بره نورو خلکو تړلې دي.

نعیم کاکا زموږ د کلي ډېر یو مهربانه سپینږیری دی ، د هر چا سره د هغه په طبیعت ځي ، په تېره له ځوانانو سره ډېر جوړ دی.

ورته مې وویل: ته لږ دمه وکړهٔ ، تر هغه به اوبه هم اوزګارې شي.

د نصوار کوتی یې له جېب راوویست ، یو دوه وارې یې په ورغوي وټکوۀ او بیا یې ترې په دوو ګوتو کې نصوار د شونډې لاندې کړل ، چې په لښتي کې د اوبو شنه هار شو.

په بیړه له ځایه پورته شو او ماته یې وویل: اوبه راغلې ، هسې نه بل څوک یې ولګوي ، زه به پټي اوبه کړم.

له ځایه پورته شوم ، ورته مې وویل: زه یې درسره اوبه کوم ، نن اوزګار یم.

په روانه کې یې لاس وښوروۀ او راته وویل: قسم دی که شي ، دومره ډېر پټي نه دي ، ته د خپل کارونه کوۀ او لاړ.

زه هم د کور خواته روان شوم.

ورځ تېره شوه ، څو ځله مې هیله پسې زنګونه وکړل ؛ خو شمېره یې هماغسې بنده او نه یې وټساپ کتلی وه.

غوښتل مې د مور په وړاندې ځان لکه د نورو وختونو عادي وښیم ؛ خو د ډوډۍ پر مهال یې راته وویل: زویه ، نن داسې غلی غونډې او خپه ښکارې ، څه خبره ده ؟

ورته مې وویل: مورې هېڅ خبره هم نشته ، امتحان ونه مو شروع کیږي ، دغه دوه ورځې درس ګورم ، لږ یې ستړی کړی یم ، شاید ځکه داسې ښکارم.

د ډوډۍ وروسته بیا د درس په بهانه تر څنګ کوټې ته لاړم.

د هیلې شمېره مې وکاته ؛ خو بند وه.

لمونځ مې وکړ ، دا چې تېره شپه او د ورځې مې خوب نه وه کړی ؛ نو سترګې راباندې خپله پټېدې.

د کوټې دروازه مې خلاص پرېښوده او مخامخ ورته کېناستم ، تر څو مې یخه هوا خوب وتښتوي.

تر ډېره همداسې ناست وم. یو وخت مې ساړه وشو ، ببرته مې دروازه بند کړه او کتابونه راواخیستل.

لـه ځـان سـره مـې ويـل: سـبا ازمـوينې پيـل کيـږي ، لـږ درس ولولـۀ ؛ ګونـدې تـر هغـه هيله زنګ وکړي.

څو شېبې وروسته به مې وټساپ چېک کاوه ؛ خو بې معنا وه.

د خـوب بيخـي رابانـدې زور شـو ، کتابونـه مـې فقـط يـوې خواتـه کـړل ، هملتـه پـر ځمکـه څملسـتم. نـور پـه ځـان نـه يـم پـوه شـوی ، چـې يـو وخـت د موبايـل پـه زنـګ پسـې راويښ شـوم ، پـه کمپلـه کـې رانـه ورک وه ، تـر څـو چـې مـې پيـدا کـاوه ؛ نـو زنـګ قطعـه شو.

موبايل مې راواخيست ، چې ګورم هيلې څلور زنګونه وهلي دي.

ساعت ته مې وکتل ، يوه بجه وه.

زنـګ مې پسـې وکـړ ، پورتـه يـې نـه کـړ. بيـا مې وکـړ ، لـه څـو ټاليو وروسـته يـې اوکـې کـړ. غلې وه ، ما هم څه نه ويل.

بيا يې غږ وکړ: څنګه غلی يې ، لکه چې نرسه د يادېږي ؟

ورتـه مـې وويـل: هيلـووو نـور دا خبـرې پريـږدۀ ، د ښکـا راهيسـې همـدا بـس وه ، چـې وټساپ او نمبر د دواړه بند وو.

هغې بيـا وويـل: نـن يـې څـه غـورې درتـه کـولې ؟ تـه بـه هـم ښـه ورتـه خوشـال وې ، ځکـه زما له زنګ څخه بې غمه وې.

غوسه راغلۀ ، اړيکه مې يې پرېکړۀ.

بيـا يـې زنـګ وکـړ ، چـې اوکـې مـې کـړ ؛ نـو يـې وخنـدل او راتـه يـې وويـل: الهاميـه ، يـو خدای خبر دی ، چې د ښکا راهيسې تر اوسه موده څنګه رابانديې تېره شوه.

ورتـه مـې وويـل: څـوګ بـه داسـې کـوي ، خـدای بـه موقـع راولـي ، بيـا بـه دې زه هـم خوښ شم.

هغې زياته کړۀ: دا دې سزا وه ، چې بيا ورسره وغږېدې ؛ نو معاف کول دې نشته.

ډاډه شـوم ، چـې اوس رضـا ده ، نـه غوسـه کيـږي ؛ نـو پـه خنـدا مـې ورتـه وويـل: لـه نرسې څخه زما کله کيږي ، هغه کله هېريږي.

هو کنه يې وکړل او بيا يې راته وويل: اې ، ته خبر يې ؟

نه مې وکړل.

هغې وويل: زما او ستا په اړيکه مې ورور خبر شوی دی.

حيران شوم ، په بيړه مې ترې پوښتنه وکړۀ: له کومه خبر شو او تاته چا وويل ؟

هغې وويل:نه پوهېږم ، ماته مې ورېنداړې دغه خبره وکړۀ ، چې ورور دې ويل: هيله د کوم چا سره اړيکه لري ، نور به پوهنتون ته نه ځي.

ورته مې وويل: اوس به څه کيږي ؟ ورور دې بيا څنګه خبر شو ؟

هغې وويل: نه پوهېږم ، چې چا خبر کړ او څه به کيږي.

حيران شوم ، له ځان سره مې وويل: اوس به څه کوې ؟ ممکن موبايل ترې واخلي ، پوهنتون ته يې ريښتيا پرينږدي.

ما چې خوله خبرې ته جوړوله ؛ نو هغې وويل: څنګه غلی شوې او بيا له خندا شنه شوه ، راته يې وويل: نور مې د خپګان زړه دربانديې نه کيږي ، ټوکې کوم.

بيا ووايۀ ، چې له نرسې څخه زما کله کيږي ، هغه کله هېريږي.

ځان مې مرور کړ ، ورته مې ووې: ما سره مه غږېږۀ او اړيکه مې پرېکړۀ.

بيا يې زنګ وکړ ، موبايل مې اوکې کړ ؛ خو غږ مې نه کاوۀ.

هغې په خندا بار ، بار همدا ويل: اې لېونيه! والا ټوکې مې کولې.

په غوسه مې ورته وويل: دا خو ټوکې نه دي.

ويې خندل او بيا يې زياته کړه: هو ، يوازې تاته خپلې هغه ټوکې ښکاري ، د نورو نه.

غلی غوندې شوم.

هغې راغږ کړ: خوله کاږه مه نيسۀ ، د ځورولو ماته هم زيات چلونه راځي. ولې زه د په نرسه کمه وځورولم.

ورته مې وويل: ښه دې وکړل ، اوس دا خبرې پريږدۀ ، سبا ازمويني دي ، نور خو سهار شو او ما پرون هم خوب نه دی کړی.

هغې اوږد بووووو وکړ او بیا یې زیاته کړه: دا خو لس کم درې بجې دي ، هله ویده کېږو.

خدای پاماني مو وکړۀ او کمپله مې په سر راکش کړۀ.

هماغسې خوب وړی وم.

سهار چې راپورته شوم لمونځ مې وکړ ؛ نو لږ درس ته کېناستم.

تر چای وخته مې مطالعه وکړه او بیا پوهنتون ته وختي روان شوم.

نور ټولګیوال له ما لا وختي خاضر وو. ستړې مشې مې ورسره وکړل. د ریحان په نوم ټولګیوال راته وویل: داسې تازه ښکارې ، لکه چې دغه شو ورځې دې ښه پرېمانه مطالعه کړې ده.

ومې خندل او بیا ورته وویل: سړیه ، کاش! نور کارونه نه وای. دا ځل ډېر مصروف وم ، مور مې ناروغه وه.

هغه وویل: ما فکر کاوۀ ، چې په موږ کې به تر ټولو ډېره مطالعه تا کړې وي ؛ خو ته هم زموږ غوندې یې.

زما عادت داسې وه ، چې کومه ورځ به درس ویل کېده ؛ نو مهم هغه به مې یې مطالعه کوۀ او ذهن کې به مې ساتۀ ، ځکه د ازموینو په ورځ کې د یو کال درس زده کول غواړې ؛ نو اصلاً امکان نه لري او بله ده ، چې هغه دې نور هم د ذهني فشار لاندې راولي.

که بیا یې د کال له سره یادوې ؛ نو د امتحان ونو پر وخت به ډېره ستونزه نه وي.

ریحان ته مې وویل: وروره ، چورت مه خرابوۀ ، ټول په یوه کټګورۍ کې یو.

زموږ د ټولګیوالو له منځه یو هغه یې ډېر ټوکي وه ، هغه وویل: یوه خبره سره کوو ، چې اتفاق به نه خرابوئ. که پرچې حال کوو هم ټول په شریکه او که نه یې حال کوو هم.

ټولو وخندل او ورته مو وویل: هو ته ښه وایې ، اتفاق باید خراب نشي.

تقریباً یو ساعت وروسته د ازموینې صحنې ته لاړو ، د یو بل څخه په فاصله کې کېناستو او ازموینه پیل شوۀ.

سـوالونو تـه پـه زړه کې نيـولی وم ، لـه ځـان سـره مې ويـل: هسې نـه سـخت وي ؛ خـو چې پرچې راکـړل شـوې او سـوالونه مې ولوسـتل ؛ نـو ورتـه خـوښ شـم ، ځکـه تـر ډېـره مې يې ځوابونه زده وو.

بسم الله مې وکړه او په حال کولو لګيا شوم.

لـږه شـېبه وروسـته هيلـه ذهـن تـه راغلـهٔ ، هغې بـه مطالعـه کـړې وي ؟ سـوالونه بـه يـې ښـنګه وي ؟ د طب هغه درسونه خو ډېر سخت دي.

بيا مې په دې ځان ډډه کړ ، چې هغه تکړه ده ، ان شاءالله ښې نمرې به اخلي.

بېرتـه مې پرچې تـه پـام واړوهٔ ، ګـورم چې د يـو سـوال ځـواب مې بـل پـسې ليکلـی دی. ځـان سـره مې وويـل: کـه اوس يـې ړنګـوې ؛ نـو پرچـه چټلېـږي او شـايد ويـې هـم نـه منـې ، سـر مې پورتـه کـړ ، اسـتاد ماتـه نـږدې ولاړ وه ، غـږ مې پـرې وکـړ: اسـتاد محتـرم. مـخ يـې راواړوهٔ نـږدې راغـی. ورتـه مې خبـره وکـړهٔ ، چې پـه غلطـۍ کې رانـه داسې وشول.

خـدای دې خيـر ورکـړي ، راتـه يـې وويـل: کومـه خبـره نـه ده ، خـط تـرې ورکـش کـړهٔ ، نور زه پرې پوهېږم.

ازموينـه خلاصـه شـوه ، چې لـه پوهنتـون راووتـم ؛ نـو هيلې تـه مې زنـګ وکـړ ، تـر څـو پوښتنه يې وکړم ؛ خو پورته يې نه کړ.

له ځان سره مې وويل: شايد تر اوسه د امتحان په سحنه کې وي.

موبايل مې لا جېب ته کړی نه وه ، چې زنګ راغی ، نمبر ته مې کتل ، نرسه وه.

ځواب مې ورنه کړ ، هماسې کور ته روان شوم.

د غرمې ډوډۍ وخـت وه ، چې د هيلې زنـګ راغـی ، اوکې مـې کـړ • خـوږ او خوشـاله غږ يې وکړ: سلام الهامووو ، خبر يې ؟

وعليکم سلام مې وکړل او بيا مې ورته وويل: لکه چې زما غوندې وې ته هم ؟

پوهه نه شوه او راته يې وويل: ښنګه ستا غوندې ؟

ومې خندل ، نور ښنګه زما غوندې ؛ خو پرچه به دې حال کړې وي.

هو يې وکړل او بيا يې زياته کړه: دغه مضمون له ټولو سخت وه ، ډېره په زړه کې ورته نيولي وم ؛ خو ان شاءالله لوړې نمرې به زما وي.

پرې خوشاله شوم ، ورته مې وويل: خود نو ، اخېر د چا هيلوووو يې.

په خندل کې يې وويل:داسې چالاک يې ، بيا يې کرېډېټ ځان ته ورکوې.

هغې نور څه ويل ، په خبره کې ورولوېدم: دا مې له تا زده کړل ، کنه زه اول داسې نه وم.

اوږد ښه يې وکړل او بيا وويل: ته پوهېږې ؟ زه چې پوهنتون ته کامیابه یم ؛ خبره يې نيمه يي کې پاتې شوه او يوه درنده چيغه يې راغلهٔ ، نور يې غږ ورک شو.

- هيلې ، وه هيلې نارې مې کړې ؛ خو غږ رانغی.

لاره رانه ورکه شوهٔ ، زړه مې بې واره ټوپونه وهل ، بيخي ورخطا شوم.

موبايل مې همداسې غوږ ته نيولی وه.

له ځان سره مې وويل: څه پرې وشول ؟ کاش! لکه مرغه مې وزر لرلی ، تر څو اوس ورغلی وای ، چې څه خبره ده.

لږه شېبه وروسته يې د خندا غږ راغی.

په بيړه مې ورته وويل: زما خو د زړه وويست ، څه خبره ده ؟ دا دې څه ډرامې شروع کړي دي ؟

هماسې له خندا شنه وه ، بيا يې راته وويل: پيشو له کوټې څخه راباندې رامنډه کړهٔ ، نږدې مې زړه چاودلی وه.

ورته مې وويل: پيشو وه ، څه ماتولې خو يې نه ، په ما دې قيامت تېر کړ.

هماغسې يې خندل ، بيا يې زياته کړهٔ: تا سره مې خبرې کولې ، په ناپامۍ کې يې راباندې راټوپ کړ.

په غوسه مې ورته ووې: ښه ده ، چې ماته کړې يې نه يې ، کنه اوس به نه وې.

هغې وويل: هو کنه ، اوس به ستا هيلووو نه وه.

خبره مې بدله کړهٔ ، ښه څه دې ويل کيسه دې په نيمه يې کې پاتې شوه.

په خندا يې ووې: خبرې مبرې هېرې شوې ، خدای خبر چې ما څه ويل.

مور راباندې کړ: زويه ، ډوډۍ تياره ده ، همدا تاته ناست يو.

ځواب مې ورکړ: سمه ده ، مورکې دادی ، درغلم.

هيلې ته مې وويل: اې ، مور وايي ، چې ډوډۍ تياره ده ، ماته ناست دي.

هغې ژر وويل: هله ، ورځۀ ؛ خو ماته د ساعت هم ونه کړ.

ورته مې ووې ، راځۀ کنه ، لا خو تللی نه يم.

ځان يې مرور کړو ، اوس راته وايې ، چې ما درته ووې.

په خندا مې وويل: درته مې ويل ؛ خو تا بيړه وکړۀ ، زه خو څه تللی نه وم.

راته يې ووې: ورځۀ لاړ شۀ ، زه هم بل وخت درته نه وايم.

ورته مې وويل: بيخي ځم نه ، هغوی د ډوډۍ وخوري.

ويې خندل او بيا يې زياته کړۀ: هله د هيلوووو الهاميه ، مورکه دوی به منتظر وي ، ټوکې کوم.

خدای پامانې مو وکړۀ ، لاسونه مې پر نالکۍ

مينځل او د مور کوټې ته لاړم.

ډوډۍ ته کېناستو ، مور مې وويل:

زويه ، هغه بله ورځ دې مشر ورور له ګاونډيانو څخه زما ناروغۍ ته پيسې اخيستې وې ، نن يې ماشوم راليږلی وه ، غوښتلې يې ، څه کار ځان ته پيدا کړۀ ، د مشر ورور په تنخوا هر څه نه کيږي.

ورته مې وويل: سمه ده مورې ، څو کسانو ته مې ويلي دي ، چې کار راګورئ ، خدای مهربان دی ، ګوندې څه چاره جوړه شي.

ډوډۍ مې وخوړۀ ، د څنګ کوټې ته لاړم.

د مور په خبره مې چورتونه شروع کړل.

ښه وايي ، د مشر ورور په معاش خو هر څه نه کيږي ، بايد څه کار پيدا کړم.

موبایل مې راواخیست ، یو څو ملګرو ته مې زنګونه وکړل ، چې ماته څه کار راګوري.

بشیر مې د پوهنتون ټولګیوال دی ، راته یې وویل: دلته زموږ سره نږدې یو شرکت ته منشي پکار دی ، زه به درته ورسره وغږېږم ، چې په کومو شرایطو یې نیسي.

ورته مې وویل: چې هېر دې نشي ، ته نن ورسره وغږېږه ، سبا به بیا په پوهنتون کې معلومات راکړې.

ښه یې وکړل او اړیکه مو پرې کړه.

ورځ تېره شوه. ماښام مې چې وټساپ خلاص کړ ؛ نو د هیلې مسېج راغلی وه ، لیکلي وو: د ورځې مې هم ټوله ورځ درس ویلی او د شپې یې هم ګورم ، که مې زنګ ونه کړ ، تلوسه مه کوه.

ورته مې ولیکل: سمه ده ، زه هم درس ګورم لږ بې خوبه هم یم ، وختي ویده کېږم ، ان شاءالله سبا غږېږو.

تر لسو بجو درس ته ناست وم ، د دوو شپو بې خوبۍ راباندې زور شو ، کتابونه مې کېښودل او څملستم.

داسې ویده شوی وم ، چې سهار یې راباندې غږ وکړ ؛ نو فکر مې کاوه ، چې یو ساعت خوب مې هم نه دی کړی.

چای مې چې وڅښه ، پوهنتون ته لاړم ؛ نو لومړی د بشیر خواته ورغلم.

ستړي مشي مو سره وکړل. مخکې له دې چې زه پوښتنه وکړم ، هغه وویل: هغه شرکت والا سره وغږېدم ، (۹ زره) افغانۍ معاش به درکوي ، د سهار له اوو تر ماښامه به ورسره کار کوې.

کور کې مشوره وکړه ، که خوښه دې شوه ؛ نو بېګاته بیا معلومات راکړه ، ځکه هغوی ته ما ویلي دي ، بیا بل کس نیسي.

سمه ده مې وکړل او د ازموینې صحنې ته لاړو.

نن پرچه نسبتاً لومړۍ هغه ته لږ سخته وه ؛ مګر بده نه وه.

ازموینه چې خلاصه شوه ؛ نو سیده کور ته راغلم.

اول مې مور ته د دندې خبره وکړه. هغه خوشاله شوه او راته يې وويل: زويه ، خدای مو چاره جوړ کړۀ.

الهم امين مې وکړل او بيا مې مور ته وويل: مورکې ، ترموز کې چای نشته ، سخت مې زړه ته شوی.

هغې وويل: همدا اوس مې ترموز ډک کړ ، زما د کټ لاندې دی.

لاړم ترموز مې راواخيست او دوه پيالې مې په پلاستيک کې واچولې ، مور ته مې وويل: زه پټيو ته وځم ، ډوډۍ ته مې زړه نه کيږي ، تاسو ډوډۍ وخورئ.

يو ، دوه کتابونه مې هم واخيستل او راووتم. د کور تر څنګ دوکان څخه مې د چای لپاره لږ مېټايانې واخيستې او پټيو ته روان شوم.

د يوه توت ستې ته مې د غاړې دسمال واچوۀ او کېناستم.

پيالې مې راواخيستې ، ترموز هوا نيولی وه ، چې سر مې يې لږ سست کړ ؛ نو چس يې وکړل ، لږ مې پرېښودۀ ، چې هوا يې ووځي.

موبايل مې له جېب راووست او هيلې ته مې زنګ وکړ ؛ خو پورته يې نه کړ.

لږه شېبه وروسته هغې زنګ وکړ ، چې اوکې مې کړ ؛ نو يې بخښنه وغوښته ، چې موبايل مې پورته نه کړ ، دسترخوان مې ټولوۀ.

ورته مې وويل: خدای دې وبخښۀ ، کومه خبره ده.

څنګه يې ؟ امتحان  د څنګه وه ؟

شکر دی ، ښه يمه يې وکړل او بيا زياته کړۀ: لومړني دواړه امتحانونه ښه وو ؛ خو د نورو به پته لګيږي.

بيا يې له ما پوښتنه وکړۀ: ته څنګه يې ؟ امتحان  د ښه وو ؟

ځواب مې ورکړ ، الحمدالله تر اوسه خو ښه يم ، امتحان  ام بد نه وو.

ښه يې وکړل او بيا يې وويل: اې رېښتيا نرسه د څنګه ده ؟

په خندا مې ورته وويل: هغه بيا څنګه درياده شوه ؟ لکه چې لانجې ته دې زړه شوی دی ؟

په خندا یې وویل: اخر زما د الهام ملګرې ده ، پوښتنه خو یې باید وکړم.

ځان مې غوسه غوندې وښود ورته مې وویل: چې پر دغه موضوع غږېږې ؛ نو نور بیخي زنګ درته نه کوم.

په خندا یې ووې: غوسه مه کوۀ ، هسې وایم ، ته عاجز خو بیخي پرې خبر هم نه یې.

ورته مې وویل: خود نو.

بیا د دندې خبره ذهن ته راغلۀ ، ورته مې وویل: نرسه پرېږدۀ ، دنده مې پیدا کړې ده.

هغې وویل: چېرته او د څه شي دنده ؟

د بشیر خبره مې ورته کړه.

لږ غلي وه ، بیا یې وویل: پوهنتون څنګه کوې ؟

ورته مې وویل: تر اوسه مې تصمیم نه دی نیولی ، بېګاته کور کې مشوره کوم یا به پوهنتون پرېږدم او یا دنده.!

هغې وویل: الهامه ، خیر دی ، په ځان تکلیف تېر کړۀ ؛ خو پوهنتون پرینږدې.

ورته مې وویل: زه چې د زده کړو ، شومره علاقه لرم ، ممکن ډېر کم خلک داسې وي ، د امکان تر حده یې نه پرېږدم.

ښه یې وکړل او بیا زیاته کړۀ: زه ، مور او پلار مې د ترور پوښتنې ته ورځو ، بېګاته بیا زنګ درته کوم ، اوس د په خدای سپارم ، پر ځان پام کوۀ.

ورته مې وویل: پخیر لاړ شئ ، ترور ته د رب شفاء نصیب کړۀ. تا هم په خدای سپارم ، ښکلي او ارامه ورځ ولرې. موبایل مې بند کړ ، د چای ترموز مې راواخیست ، چې پیاله مې ډکه کړۀ ؛ نو څه شی پکې وغورځېدل ، بېرته مې توی کړه او بیا مې ډکه کړۀ.

کتاب مې خلاص کړ ، له قط شوي پاڼې مې مطالعه پیل کړۀ.

ښه شېبه مې کتاب ولوست ، لمر بیخي خوب راوست ، کتاب مې بند کړۀ ، د چایو پیاله مې راواخیسته.

نیمــه پیالــه بــه مــې خښــلي وي ، چــې زنــګ راغــی ، موبایــل مــې پــر بوټــانو ایښــی وه ، شمېرې ته مې وکتل ، نرسه وه.

له ځان سره مې وویل: لکه چې د هیلې د مرګ دې اورېدلي دي.

زړه نا زړه مې اوکې کړ. د هغې سلام راغی او بیا یې وویل: څنګه یې ؟

وعلیکم سلام مې وکړل ، بیا مې وویل: شکر دی ، بس ګوزاره روانه ده.

هغې وویل: مورجانه دې څنګه ده ؟

ځواب مې ورکړ: اوس خو بیخي ښه ده.

مـا نـه غوښـتل ، چـې خبـرې اوږدې کـړم. لنډ ، لنډ ځوابونـه مـې ورکـول ؛ خـو هغـې هڅـه کولـه ، چې ډېره راسره وغږیږي ، ویـې ویـل: کـه وخت مـو پیـدا کـړ ؛ نـو مـور د یـو ځـل بیا روغتون ته راولۀ ، چې معاینات یې وکړو ، تر څو ښه ډاډه شئ.

ورته مې وویل: سمه ده ، ان شاءالله.

بیـا یـې زیاتـه کـړۀ: ځکـه زنـګ درتـه کـوم ، پـر مـا خـو ښـه لګیـږئ ، چـې تاسـو تـه بـه څنګـه وم ؟ پوښـتنه مـې کولـه ، چـې ښـه وئ ؛ نـو نـور دې وخـت نـه نیسـم مصـروف بـه وې.

خدای پاماني مو وکړۀ.

لمر تېز وه ، ګرمي مې وشوه ، چې چای مې وڅښۀ ؛ نو کور ته لاړم.

په برانډه کې لمر ته پر کټ کېناستم ، خوند یې راکړ ؛ نو اوږد وغځېدم.

پـه څـو شـېبو کـې خـوب وړی وم ، چـې یـو وخـت مـې مـور رابانـدې غـږ وکـړ: هلـه الهامـه زویـه ، لمـونځ د قضـا کیـږي. پـه بیـړه پورتـه شـوم ، سـاعت تـه مـې وکتـل ، څـه د پاسـه دوه بجې وې ، تندی مې خوالې شوی وه ، پر دسمال مې وچ کړ او کوټې ته لاړم.

اودس او لمونځ مې چې وکړل ؛ ن بیا د باندې راووتم.

سلیم ، چې کلیوال نږدې ملګری مې وه ، زنګ مې ورته وکړ.

سـلام ، جـوړ او ښـه مـو وکـړل ، ورتـه مـې وویـل: چېرتـه یـې ؟ هغـه وویـل: ښـار تـه سـودا پسې راغلی وم ، لږ وروسته درځم.

ورته مې وویل: سمه ده ، چې راشې ؛ نو زنګ راته وکړهٔ ، نور مو اړیکه پرېکړهٔ.

له کلیوالو سره د دوکان مخې ته په چوکۍ کېناستم.

پر بېلابېلو موضوعاتو ګرم بحثونه روان وو ، تر ډېره برخه یې سیاست نیولې وه.

زما نه خوښېدل ، چې سیاسي بحثونه وکړم ، تر څنګ ناست کلیوال ته مې وویل: هوا ډېره ښه ده ، نور کالونه به دغه وخت ساړه زیات وه.

هغه وویل: هو ، سږ کال تر اوسه بارانونه او واورې نه دي شوي ، چې وشي ؛ نو ته به بیا ساړه وګورې.

ورته مې وویل: خدای دې د خیر بارانونه وکړي ، هوا ډېره چټله ده ، زوکام او ټوخی په هر ځای خپور دی ، نور خو حتماً دومره ساړه وي ، څکه ژمی شروع کیږي.

هغه زیاته کړهٔ: ورکوهٔ یې ، د ژمي له نوم مې بد راځي. زوکام او ټوخی مې خوښ دي ؛ خو ساړه نه.

په خندا مې وویل: ژمی هېچاته هم خوند نه ورکوي ؛ خو د خدای په هر کار کې زموږ د انسانانو خیر دی.

بېشکه یې وکړل ، چې بله خبره یې کوله ؛ نو مشر ورور غږ پرې وکړ: دلته راشهٔ. دی هلته ورغی او زه هم له ځایه پورته شوم ، د سرک هغه بله غاړه د فوټبال میدان سره نږدې د ناستي لپاره په جوړ شوي ځای کې کېناستم..

له ځان سره مې وویل: چې سلیم راشي ؛ نو د دندې او پوهنتون په اړه به ورسره مشوره وکړم.

تقریباً نیم ساعت به وتلی وي ، چې زنګ یې وکړ. ورته مې وویل: د فوټبال میدان سره یم ، دلته راځهٔ.

لږ شېبه وروسته د تور بکس سره ، چې د فوټبال د لوبې لباس او بوټان به یې پکې وو ، په سرک راواوښته ، چې رانږدې شو ؛ نو غږ مې پرې وکړ: دومره نازونه دې شول ، زه دې دوه ساعته کېنولی یم او ته ورک یې.

ویې خندل او بیا یې راته وویل: ستا څخه مې زده کړل ، کنه مخکې داسې نه وم.

راورسيد ، سترې مشي مو وکړل او تر ځنګ مې کېناست. پوښتنه مو سره وکړه او بيا مې د دندې او پوهنتون موضوع مې ورياده کړه.

هغه وويل: وروركه ، كاش! زما په وس کې څه واى ، بيخي مې دې فكر ته هم نه پرېښودې ؛ خو چاره نشته او بيا يې زياته كړه: تاته زما څخه د خپل ژوند ښه پته لګيږي ، چې بايد څه وکړې ، زه ممکن دغه برخه کې مشوره درنشم کړی ، ځکه ستا اقتصادي حالت او ژوند رامعلوم دی ، بل دغه سخته پرېکړه ده ، بايد خپله يې وكړې.

ورته مې وويل: خير ، بيا هم دومره نظر راکړه ، چې څه وکړم ؟

هغه وويل: الهامه ، که زه درته ووايم ، چې پوهنتون مه پريږده او دنده پريږده ؛ نو د کور مصرف دې نشم درکولاى او برعکس دې د زده کړو مساله ده.

هيله ده ، په دې اړه به ما درک کړې ، چې څه نشم ويلی.

ورته مې وويل: سمه ده ، زه بېګاته کور کې هم مشوره کوم ، بيا درته وايم. ته د اوس لمونځ وكړه ، بيا به لوبه كوو او زه يو ځل كور ته ځم.

هغه په لمونځ ودارېده او زه كور ته لاړم.

مور مې په نغري کې لګيا وه ، د وريژو دېګ پسې يې اور بلوه. ورته مې وويل: ته د لمونځ وکړه ، اور زه بلوم.

مور مې كوټې ته لاړه ، ما چې اور بل كړ ؛ نو زه هم كوټې ته ورغلم او لمونځ مې وكړ.

تر ماښامه مې له موره سره ناست وم ، كيسې مو كولې ، چې اذان وشو ؛ نو مور مې پورته شوه او ويې ويل: وريژې ګورم ، چې رانه ونه سوځيږي.

زه جومات ته راووتم.

تر ناوخته د جومات مخته له كيلوالو سره ولاړ وم ، هر يوه چې په ورځ کې څه ليدلي وو ؛ نو ويل يې. تياره خواره شوه ، ټول خپلو كورونو ته لاړو.

زمونږ عادت وه ، ډوډی به مو وختي خوړه ، زه چې ننواتم ؛ نو وريژې تيارې وې.

مور تـه مې وويـل: يـو خـو سـتا خـوب تـه دومـره بيـره وي ، چـې ماښـام لا نـه وي ، ډوډۍ دې تياره وي.

ويـې خنـدل او بيـا يـې راتـه ووې: تاسـو نـو چـا پـه زور ځملـولي يـئ ، تـر نيمـې شـپې خـو کېنئ.

ورته مې وويل: چې ته ويده شې ؛ نو بيا خو مور ته هم ناستی نه خوند راکوي.

مشـر ورور مـې پـه خبـرو کـې راولوېـده: وختـي ډوډۍ ښـه وي ، نـور کـه کېنـئ او کـه خوب کوئ ، مور ستړې وي ، پرېږدۀ ، چې ارام کوي.

مور مې وويل: هله دسترخوان هوار کړئ ، چې وريژې مو يخ کړې.

کوچني ورور مې دسترخوان واچوۀ او ما د وريژو کونډل راوخيست.

ډوډۍ مـو وخـوړه ، مـور مـې وويـل: کـه چـای تـه مـو زړه کيـږي ؛ نـو د کـټ لانـدې مـې پتنوس کې ترموز ډک ايښی دی.

ورته مې وويل: سمه ده ، لږ وروسته به يې وڅښو.

مشر ورور او مور مې کيسې شروع کړې او ما فسبوک اخلاص کړ.

د کرکټ موضـوع ګرمـه وه ، هـر چـا يـې پـه اړه يـو پوسـټ کـړی وه ، بېرتـه مـې بنـد کـړ ، چې چای مې وڅښۀ ؛ د مطالعې په پلمه تر څنګ کوټې ته لاړم.

د دندې او پوهنتون په اړه مې سوچونه پيل کړل.

لـه ځـان مـې وويـل: زده کـړې خلـک د ځـان او کـورنۍ د ښـه والـي لپـاره کـوي ، چـې زمـا د مور لپاره د ناروغۍ پيسې نه وي ، چې زه تعليم کوم نو څه معنا ، بايد کار وکړم.

ژوند يوه ورځ هم نه دی ، چې تېر به شي ، تر کومه به مې يوازې ورور لګيا وي.

که بيا هم موقع پيدا شوۀ ؛ نو پوهنتون به ووايم.

همدا پرېکړۀ ، مې وکړۀ ، چې پوهنتون به پرېږدم او کار به کوم.

بشـير تـه مې زنـګ وکـړ او ورتـه مې وويـل: تـه د هغـه شـرکت والا سـره خبـر شـۀ ، سبا لـه ازمـوينې وروسـته ورځـم ، ان شـاءالله کـار ورسـره پيلـوم. سـمه ده يـې وکـړل او بيـا يـې زياتـه کـړۀ: زه اوس ورسـره زنـګ کـوم ؛ خـو سـبا چـې ازموينـه خلاصـه شـي ؛ نـو يـو ځـای به لاړ شو.

ورتــه ومــې وویــل: دا خــو لا ښــه ده ، اوس دې نــور وخــت نــه نیســم ، شــاید درس بــه لولې ، سبا بیا له نږدې سره غږېږو ، نور مو اړیکه پرې کړه.

کتـابونو تـه مـې وکتـل ، بیـا مـې هغـه د کـانکور د پـایلو د اعلانولـو ورځ او خوښـي سـترګو ته ودارېده ، ورپسې د پوهنتون دغه یو کال او زما لوړې هیلې.

سـترګې مـې لـه اوښـکو ډکـې شـوې ، ډېـره هڅـه مـې وکـړه ؛ خـو تـم مـې نشـوې کـړی ، لاندې په کتابونو راوڅاڅېدې او پاڼې یې لمدې کړې.

په همدې سوچونو کې وم ، چې د هیلې زنګ راغی•

اوښـکې مـې ژر وچـې کـړې او سـتونی مـې تـازه کـړ ، تـر څـو هغـه رابانـدې پوهـه نشـي ، بیـا مې موبایل اوکې کړ.

د هغې خوږ غږ راغی: سلامونه الهامیه ، څنګه ؟ ورځ دې ښه وه ؟

د سـلام ځـواب مـې ورکـړ او بیـا مـې ورتـه وویـل: شـکر دی ، بیخـي ښـه یـم. تـه څنګـه یې ؟ ترور دې څنګه وه ؟ راغلی یې او که هملته یې ؟

ځـواب یـې راکـړ: الحمـدالله ، زه هـم بیخـي ښـه یـم. تـرور مـې هـم ښـه وه ، خپـل کـور کـې یم ، مزدیګر راغلو.

ښه شکر دی مې وکړل ، هغې وویل: مشوره د وکړه ؟

هـو مـې وکـړل ، چـې بلـه خبـره مـې کولـه ؛ نـو هغـه راوړانـدې شـوه: څنګـه پرېکـړه دې وکړه ؟

لــه ځــان ســره مــې وویــل: کــه اوس دروغ ووایــم ، بیــا خبریــږي ، راځــه ریښــتیا ورتــه ووایـه ، چـې نـور څـه کیـږي ، خـدای بـه خیـر کـړي ؛ نـو مـې وویـل: پوهنتـون پریـږدم ، سبا ان شاءالله کار شروع کوم.

لـږ غلـې شـوه او بیـا یـې وویـل: زه ټولـه ورځ وېرېـدم ، چـې تـه پوهنتـون پرېـږدې ؛ مګـر هماسې تصمیم دې ونیوه.

ورتـه مـې وویـل: پـرون مـې هـم دغـه خبـره وکـړه ، چـې زمـا څخـه د تعلـیم شـاید ډېـر کـم علاقمند وي ؛ خو مجبوري تر ټولو بده ده.

هغې وویـل: زه پـوهېږم ، درک کـوم دې ؛ خـو تـه دومـره پوهنتـون مـه پریـږدهٔ ، زه مې خپلـه برخـه پیسـې هـره میاشـت تاتـه درکـوم ، کـه ډېـرې نـه وي هـم ؛ خـو ګـوزاره پـرې کوهٔ.

هغې نـور څـه ویـل ، خبـره مې یـې ونیـوه: هیلـوو ، ژونـد یـوه ورځ ، میاشـت او کـال نـه دی ، چـې تـه خپلـه برخـه پیسـې ماتـه راکـړې ، زه بایـد کـار وکـړم ، وعـده درسـره کـوم ، چې بیا هم موقع په لاس راشي ؛ نو پوهنتون وایم.

هغې وویـل: زه تـر مرګـه تیـاره یـم ، چـې خپلـه برخـه پیسـې درکـړم ، تـه دې تـه زړه مـه خـورهٔ ، چې زه بـه احسـان دربانـدې واچـوم او یـا بـه یـې درتـه یـادوم. زمـا او سـتا خـو یـوه خبره ده.

پـه خنـدا مـې وویـل: لېـونۍ دا خبـره نـه ده ؛ خـو دا اوس فرصـت دی ، ځکـه بـل وخـت شاید دغه دنده هم پیدا نه شي.

د هغې ټینګار همدا وه ، چې پوهنتون مه پرېږدهٔ ، زه همکاري درسره کوم.

مګر ما له پوره فکر کولو وروسته دغه پرېکړهٔ کړې وه.

هیلـې تـه مـې وویـل: زه خپـل حالـت وینـم ، کـه اوس نـه وي ؛ نـو بیـا هـم راځخـه پـاتې کیږي ؛ نو ښه داده ، چې وظیفه خو واخلم.

هغه غلې شوهٔ.

غـږ مـې پـرې وکـړ: هیلـووو ، تـه مـه خپـه کېـږهٔ ، دایمـاً بـه دغـه حالـت نـه وي ، بـاوري اوسهٔ ، چې داسې وخت به راځي ، بېرته به پوهنتون وایم.

هغــې وویــل: د مشــر ورور نمبــر دې راکــړهٔ ، زه ورتــه وایــم ، چــې دا دې درس نــه پرېږدي.

پـه خنـدا مـې وویـل: والاکـه هغـه تـر اوسـه راتـه ویلي وي ، چـې تـه درس مـه وایـهٔ ، کـار وکړهٔ. په دې هغه خبر هم نه دی ؛ دا تصمیم مه خپله نیولی.

هغې وویل: سمه ده ، زه هم پوهنتون پرېږدم.

پـه حیرانـۍ مې وویـل: هیلـووو ، تـه لېـونۍ شـوې یـې ؟ کـه تـه پوهنتـون پریـږدې ؛ نـو پـه دې بـه سـتونزه حـال شـي ؟ بیـا خبـره وغځولـه: تـه ددې پـر ځـای چې ماتـه داد راکـړې ؛ برعکس داسې وایې هننن ؟

غلي شوۀ ، هېڅ يې نه ويل.

بيا مې غږ پرې وکړ: اې ، تاته وايم.

لکه ژاړي چې ، په ټيټ غږ يې وويل: ته به نه وې ، زه به پوهنتون ته ځم ، دا امکان لري ؟

له ځان سره مې وويل: راځۀ ، اوس ورته ووايۀ ، چې ښه نه يې پريږدم ، په ازموينو کې هسې هم په پوهنتون کې ورسره نه وينم ، له هغه وروسته خو رخصتۍ دي.

هغې راباندې غږ کړ: څنګه غلی شوې ، ځواب راکړۀ.

ورته مې وويل: سمه ده ، پوهنتون نه پريږدم ، هغوی ته به ووايم ، چې خوښه مې نه شوۀ ، داسې څه کار به وګورم ، چې وروسته له درس څخه وي.

هغه خوشاله شوه ، راته يې وويل: افرين ، خدای مهربان دی ، څه چاره به جوړه شي ، زه هم کومک درسره کوم.

ورته مې وويل: هو ، الله به يوه لاره جوړه کړي.

تر ناوخته مو خبرې وکړې ، بيا مې ورته وويل: هله سبا ازموينه ده ، درس به ګورې ، بيا غږېږو. هغې وويل: سمه ده ، ته به هم درس ګورې ، زما سبا ورځ وقفه ده ؛ خو لږ مطالعه به وکړم.

خدای پاماني مو وکړۀ او اړيکه مو پرېکړۀ.

تر ډېره مې د هيلې په دې خبره چورتونه وهل: زه هم پوهنتون پرېږدم.

له ځان سره مې ويل ، يوه ورځ خو حتماً خبرېږي ، څنګه به قناعت ورکړم ؟

که خبره شي ؛ نو وايي به ماته دې ولې دروغ وويل ؟

په همدې کشمکش کې د خوب څپې له ځان سره وړی وم.

سهار چې راپورته شوم ؛ نو بېګانۍ خبرې مې ټولې په ذهن کې راګرځېدې.

لکه يو خوب چې مې ليدلی وي ، هېڅ مې ذهن نه منلۀ ، چې د پوهنتون وروستۍ ورځ مې دې وي.

لـه چـای څښـلو وروسـته ، پوهنتـون تـه روانېـدم ؛ نـو مـور تـه مـې وویـل: شـاید نـن ناوخـت راشـم ، هغـه شـرکت تـه ورځـم ، تـر څـو ورسـره وغږېږم ، کېـدای شـي همـدا نـن کـار هـم پیـل کـړم. هغـې وویـل: زویـه ، خـدای دې پـه مخـه وچلـوه ، الله مهربـان دی. سمه ده ، ورځه لاړ شه.

لـه کـور راووتـم ، پوهنتـون تـه روان شـوم ، نـن لـږ رابانـدې ناوخـت وه ، چـې ورسـېدم ، څو شېبې وروسته ازموینه پیل شوه.

چـورت مـې خـراب وه ، هـېڅ پـوه نـه شـوم ، چـې سـوالونه مـې څنګـه حـال کـړل ، پرچـه مـې اسـتاد تـه ورکـړه او د دروازې سـره نـږدې چمـن کـې ، چېرتـه بـه چـې هیلـې تـه کېناستم ، بشیر ته منتظر شوم.

هغـه صحنې مې لکه فلم په ذهنې کې راتېرې شـوې ، چې هغـه به لـه دروازې راننواتـه او سـترګې بـه یـې پـه مـا ولګېـدې ، موسـکا بـه شـوه ، هغـه چـې لیـک مـې ورکـړ ، هغـې چې به راکتل ، ټولګیوالې به ورسره وې او پټ به یې په اشارو پوهولم.

د چورتونــو لــړۍ د بشــیر زنــګ راوشــکوله: ویــل یــې چېرتــه یــې ؟ ورتــه مــې وویــل: دروازې ته راځه ، درته ولاړ یم.

څو شېبې وروسته راورسیده ، ستړي مشي مو وکړل ، هغه وویل: ځو به.

هغــه مــې وړانــدې کــړ او زه ورپســې شــوم ، چــې لــه دروازې ووتــم ؛ نــو پــه شــا مــې پوهنتـون تـه راوکتـل ، یـوه نـړۍ ارمانونـه مـې پکـې پاتې ولیـدل ، د سـترګو لـه چینـو مـې اوښکې راخوتېدې او پر مخ یې راباندې لارې جوړې کړې.

بشیر ولیدم ؛ خو ځان یې ناپامه واچوه او غلی روان وه.

لږ وړاندې یوې رېشکې ته پورته او ښار ته روان شوو.

رېشــکه پــه ټــاکلي ځــای ودارېــده ، مــوږ تــرې ښــکته شــوو. بشــیر وویــل: لــږ وړانــدې شرکت دی ، همداسې به پلې لاړ شو.

ورته مې وویل: هو کنه ، لږ به مو ورزش هم وشي.

هلتـه چـې ورسـیدو ؛ نـو سـیده دفتـر تـه ورغلـو. د مېـز تـر شـا یـو غنمرنـګ او نسـبتاً ټیـټ قدی سړی ناست وه.

ستړي مشي او پوښتنه مو وکړه ، بشیر زه ورسره معرفي کړم.

مسؤل کس بیا پخیر راغلي راته وویل او له هغه وروسته یې ځینې پوښتنې وکړې او ما یې ځوابونه ورکړل.

بشیر ورته وویل: ان شاءالله د کار یې زه پوره ډاډ درکوم ، نه به ترې خپه کېږئ.

مقابل کس د مخ له جیبه قلم راوویست او پر مېز ایښي کتابچه کې یې څه ولیکل ، بیا یې بشیر ته وویل: دادی د کار پیل نېټه مې یې ولیکله ، نوموړی سر له ننه له موږ سره منشي شو ، ورپسې یې ماته مخ راوړ: کار دومره سخت نه دی ؛ خو فقط لږ ځرکتیا غواړي ، څو ورځې به لږ نابلده وې ، وروسته به خپل ښه شې.

ورته مې وویل: هو ، ان شاءالله چې بلد شم ، بیا به ستونزه نه وي.

لږه شېبه وروسته یو په ونه دنګ ځوان د چایو ډکې پیالې په پتنوس کې راوړې او د هر یوه مخې ته یې کیښودې.

مسؤل شخص وویل: دا چې نن دې لومړۍ ورځ ده ؛ نو شرکت وګوره ، موږ ته بېلابېل ډوله کیکونه او بیسکټ له نورو هېوادنو راځي.

له چای څښلو وروسته په ټول شرکت کې راګرځېدو ، هر څه یې راته وښودل. بشیر وویل: وخت ناوخت به دربانـدې راګرځم ؛ خو اوس ماته اجازه راکړئ ، چې لږ کار لرم ، تاسو د خدای سره خوښ لرئ.

هغه مو رخصت کړ او موږ بېرته دفتر ته لاړو.

شرکت والا پخپل ځای او زه لاندې کېناستم. مخ یې راوړ راته یې وویل: بشیر ستا د درس په اړه راته ویلي دي ، پوهنتون ته د ازموینې لپاره ځۀ او بیا دلته راځۀ.

حیران شوم ، لکه خوب چې وینم ، هېڅ مې یقین نه کېده ، مړې کېدونکي هیلې مې بېرته ژوندۍ ولیدې.

ورته مې وویل: دا احسان به مو تر مرګه هېر نه کړم ، ما خو داسې ګڼلي وه ، چې درس راڅخه پاتې شو.

هغه وویل: ممکن زه نن دغه شرکت ولرم او سبا نه ؛ نو څومره چې مو له وسه پوره وي ، باید له یو بل سره مرسته وکړو ، بیا یې خبره پسې وغځوله: موږ ډېر د غریبۍ ژوند تېر کړی ، د نورو ژوند درک کولای شم ، پلار مې دې خدای وبخښي ، هغه به راته وې: زویه ، نور هر څه کوۀ ؛ خو د لاس لاندې کسانو سره لکه د کورنیو د غړو

چلنـد کـاوۀ ، ځکـه د هغـوی دعـا او ښـېرا لـه زړه څخـه وي ، کـه دې يـې دعـا واخيسـته ؛ نـو ټـول عمـر بـه خـړ نشـې ؛ نـو مـا هماغـه د پـلار خبـره پـه ذهـن کـې نيـولې ده.

زمـا هيلـه سترګو تـه ودارېده ، اوس بـه هـر څـه ريښـتيا ورتـه ووايـم ، څـومره بـه خوشـاله شـي ، بيـا مـې لـه ځـان سـره وويـل: خـدای څـومره لـوی مهربـان دی ، زمـا دروغ يـې ريښتيا کړل.

زه پـه همـدې چورتونـو کـې وم ، چـې شـرکت والا راتـه وويـل: نـن دې شـرکت او کـار ځای وليده ، نور تلی شې ، سبا به نو خپل کار پيلوې.

ورته مې وويل: مشکل نشته ، چې اوس کوم کار وي ، راته يې وښيۀ کوم يې.

هغه وويل: نه ، کوم کار نشته ، سبا به ان شاءالله بيا کار کوې اوس تلی شې.

له ځايه پورته شوم ، خدای پاماني مې ورسره وکړۀ او د باندې راووتم.

هـېڅ مـې ذهـن نـه منـل ، دا هـر څـه يـو خـوب راتـه ښـکاره کېـده. ژر مـې موبايـل راوخيست او هيلې ته مې زنګ وکړ ؛ مګر شمېره يې بند وه.

پـه ښـار کـې ګڼـه ګوڼـه بيخـي زياتـه وه ، د کوچنيـو لوډسـپکرونو ولا شـور جـوړ کـړی وه ، هر خوا خلک په بيړه روان وو ، لکه د ټولو چې ښه عاجل کارونه وي.

څو دقيقې وروسته زموږ کلي ته د تلوونکو موټرو تمځای ته ورسيدم.

ډک مـوټر مـې کاتـۀ ، چـې يـو کـس يـې کـم وي ، ځکـه تـش مـوټرو کـې سـړی سـتړی کيږي ، تاووي ، راتاووي دې.

شـېبه وروسـته يـو مـوټر راغـی ، مـوټروان سـر لـه ښيښـې نـيم راويسـتلی وه او نـارې يـې وهلې ، يو کس کم دی ، هله نور وځم.

اشاره مې ورته وکړۀ ، يوې خنډې ته ودارېدۀ او ورپورته شوم.

حرکـت مـو وکـړ ، تـر ځنـک ناسـت سـپينږيري مـې پـه مـا ځـان د ښيښـې خواتـه راکـش کـړ او نصـوار يـې تـوپ کـړل او بيـا يـې وويـل: د روسـانو پـه وخـت کـې چـې مـوږ پاکسـتان تـه مهـاجر شـو ؛ نـو هغـه وخـت يـې زمـوږ پـه سـر پيسـې اخيسـتې. پـوه شـوم ، چـې لـه وړاندې نه بحث شروع دی.

په مخ سېټ کې ناست د شنې رېږې والا په چوکۍ کې شا خواته راتاوو شو او د بل ته يې وويل: پاکستان چې پيدا دی ، زموږ دوښمن ؛ خو موږ ونه پېژنده ، اوس هم ټول ور روان وو.

موټروان ، چې کم عمره ځوان وه ، هم په بحث کې ځان شامل کړ: زه چې پيدا يم ؛ نو پاکستان موږ په ارامه نو يو پرېښې.

ما موبايل له جېب راواخيست او ځان مې پکې مصروف کړ. تر کلي پورې بحث ښه په درز کې روان وه.

کرايه مې ورکړۀ او له موټر ښکته شوم.

کور ته چې راغلم ؛ نو مور او کوچنی ورور مې ډوډۍ ته ناست وو. ما هم لاسونه ومينځل او ورسره کېناستم.

مور مې وويل: زويه ، تا سهار ووې ، چې له پوهنتون وروسته کار ته ځم ؛ نو ځکه موږ ډوډۍ تياره کړۀ.

ورته مې وويل: مورې ، هو تللی وم ؛ خو نن يې وختي رخصت کړم ، سر له سبا به بيا ماښام راځم.

هغې وويل: ورسره وغږېدې ، کار يې درکړ ؟

هو مې وکړل او پر ډوډۍ لګيا شوم.

مور مې زياته خوشاله شوه ، راته يې وويل: زويه ، هر څه ته فکر کوۀ ، په وخت ورځۀ او په سپين نيت کار کوۀ.

سمه ده ، مې وويل او بيا زياته کړۀ: مورې ، ډېر ښه خلک دي ، بيخي له چا ځان لوړ نه بولي ، نن چې ورغلم ، راته يې ووې ، چې پوهنتون مه پرېږدۀ ، چې امتحان د ختمېږي راځۀ.

مور مې وويل: خدای دې سل چندانه نوره دنيا هم ورکړي ، چې دومره ښه خلک دي.

ډوډۍ مې ژر ، ژر وخوړۀ او کوټې ته لاړم ، هيلې ته مې د زنګ وهلو تلوسه وه.

موبایل مې راواخیست ، زنګ مې پسې وکړ ، ورتېر شو ، اوکې یې کړ او سلام یې واچوؤ. ځواب مې ورکړ او بیا مې په بیړه ورته وویل: هیلووو پوهېږې ، ما تاته بېګا دروغ وویل ، چې پوهنتون نه پرېږدم ؛ خو نن چې شرکت ته لاړم ؛ نو راته یې ووې ، چې پوهنتون نه وروسته راځۀ ، زما دروغ ریښتیا شول.

هغې اوهووو وکړل او بیا یې وویل: شکر خدایه ، دا خو دې زېری رابانډې وکړ ، له زړه خوشاله شوم ؛ خو ولې دې دروغ راته ویلي وو ؟ ایا بیا نه خبرېدم هن ؟

ولې نه مې ووې او بیا مې زیاته کړۀ: څه مې کړي وای ، تا خو خبره نه منلۀ ، همدا دې ویل ، چې زه هم پوهنتون پرېږدم ، بله چاره راسره نه وه.

ویې خندل او بیا راته وویل: دا ځل څه نه وایم ؛ خو که دې بیا راته دروغ وویل ؛ نو زه به دې خوښۀ شم.

ومې وخندل او ورته مې ووې: بیا دې خدای داسې حالت نه راولي ، دا ځل خو بله چاره راسره نه وه.

هغې وویل: اې ، زه دوډۍ تیاروم ، خوند یې وکړ ، چې خبره دې کړم ، بیا خبرې کوو ، اوس به دا کار وکړم.

ورته مې وویل: هله ، زما یوازې دې ته تلوسه وه ، چې خبره دې کړم ، اوس ښکلی او خوړ وخت ولرې ، بیا غږېږو.

اړیکه مو پرې کړۀ.

ټوله ورځ خوښ وم ، د شرکت والا ته مې زړه دعاګانې کولې.

شپې او ورځې یو په بل پسې تېرې دې.

له پوهنتون وروسته به کار ته تلم او اوس پوره بلد شوی وم.

ازموینې خلاصې او رخصتۍ شوې

هوا هم تغیر کړی وه ، ساړه په زیاتېدو وه.

غرمه مهال زه د سهار وتلو مالونو پر حسابۍ اخته وم ، چې په شرکت کې یوه کارکوونکي راته وویل:منشي صیب ، دلته نږدې یو د کرایې کور دی ، که یې نیسې.

دا چې په کار لګیا وم ؛ نو مې ځواب ورکړ: وروسته به بیا پرې وغږېږو.

هغه لاړه او زه پخپل حساب کې لګيا شوم.

تقريباً ساعت وروسته مې چې کار خلاص کړ ؛ نو د هغه کاريګر خبرې خوند راکړ ، له ځان سره مې وويل: زه او مشر ورور دواړه هره ورځ ښار او کور ته په تګ راتګ د دوو مياشتو د کور کرايې پيسې مصروفوو ؛ نو له دې خو دا ښه ده ، چې ښار ته ګډه راوکړو او همدلته نږدې واوسېږو.

په هماغه کس پسې ورغلم ، ورته مې وويل: هغه وخت په کار لګيا وم ، اوس ووايه ، څنګه کور دی او کرايه يې څومره ده ؟

هغه ځواب راکړ: د شرکت نه لږ وړاندې شفاخانې ته مخامخ کوڅه کې دی ، دوه کوټې ، برنډه ، کوچنی غوندې انګړ ، د اوبو په شمول برق هم لري

ورته مې وويل: دا خو لکه موږ ته يې چې جوړ کړی وي.

ويې خندل او بيا يې زياته کړه: تاسو ته ډېر ښه دی ، نور د خپله خوښه.

د کرايې پوښتنه مې وکړه ، ده ته هم معلومات نه وو ؛ خو ويل يې ، سبا به يې درته ووايم.

سمه ده مې وکړل او زياته مې کړه: زه به هم بېګاته په کور کې مشوره وکړم او ته د کرايې پوښتنه وکړ ، بيا سبا سره خبرېږو.

ساعت ته مې وکتل د ډوډۍ وخت وه. اشپاز مې ته غږ کړ ، د ډوډۍ پوښتنه مې ترې وکړه ، چې تياره ده او کنه ؟

هغه وويل: اوس ما غږ درکوه ، په دفتر کې مې دسترخوان هوار کړی دی ، ورځه.

لاسونه مې ومينځل او ډوډۍ ته ورغلم.

د شرکت مالک هم ناست وه ، د کور نيولو خبره مې هم ورسره شريکه کړه ، چې څه نظر لرې ؟

هغه وويل: ته د يو ځل کور کې مشوره وکړه ، چې د هغوی خوښه وه ؛ نو بيا له دې ښه خبره چېرته شته ، همدلته به نږدې وې.

ډوډۍ مو چې وخوړه ، لمانځونه مو وکړل ؛ نو بېرته په کار لګيا شوو.

ماښام ته نږدې مې حسابونه خلاص کړل او کور ته روان شوم.

د شپې پر ډوډۍ مې په ښار کې د کور نیولو خبره یاده کړه ، مشر ورور او مور ته مې خوند ورکړ ؛ خو کوچني ورور مې زړه نه کېده ، هغه وویل: کلی ډېر ښه دی.

ورته مې وویل: له مجبورۍ څو ، کنه مور ته کله ښار خوند راکوي ، کلی خو کلی دی.

مشر ورور مې وویل: سبا یې چې کرایه معلومه شي ، که مناسبه وه ؛ نو سمدستي ورسره جوړ شۀ.

ښه مې وکړل او له ډوډۍ پورته شوم.

لږه شېبه وروسته دوی هم دسترخوان ټول کړ او کوچني ورور مې چای راواخیست.

مور مې وویل: زویه ، دلته خو ټول خپل پرادی راسره نږدې دی ، هلته به څه کوو ، زما خو یوازې زړه تنګیږي.

ورته مې وویل: مورې ، خو یوه بله اېنګور هم وکړۀ ، بس فکر به دې ورسره بدل وي.

ویې خندل او بیا یې وویل:

هغه بله هم لا ناسته ده ، تا سره که پیسې وي ، چې نن یې وکړم.

ورته مې ووې: زما په خوښه یې راته کوې او که ستا ؟

هغې وویل: که تا لیدلي وي ؛ نو هماغه به درته وکړم.

په خندا مې ورته وویل: تاسې خو په ښکلو او بدرنګو نه پوهېږئ ، چې په پیاله کې بوره ډېره درته واچوي ؛ نو وایئ ، چې له دې بله ښه نشته.

ویې خندل او بیا یې وویل: نه نو داسې هم نه ده ، ښکلي ښځه درته کوم

مشر ورور مې په خبرو کې راولوېده: د مور په خوښه چې یې وکړې ؛ نو لکه لټرۍ داسې به وي ، چې څه شی درته پکې وواتل.

ټولو وخندل ، مور مې وویل: پخوانیو خلکو د ښځو نوم هم نشو اخیستلی ، تاسو ته ګورۀ.

ورته مې وویل: مورې هغه وخت خو په جوارو ، شفتلو او یو من غنمو خلکو ښځې کولې ، اوس خو هغه وخت نه دی.

مورې مې وویل: له ښکلو سره هم چا ډوډۍ نه ده خوړلې ، چې اخلاق یې ښه وي او په هر څه وپوهیږي ، بس له دې ښکلې نشته.

ورته مې وویل: مورې ، بس چې ستا خوښه وي ؛ نو زما هم خوښه ده ، بیا مې د کور موضوع راواخیسته: مورې ، څومره کرایه ، چې مور کلي او ښار ته په تللو او راتللو مصروفوو ، په بازار کې پرې دوه میاشتې کرایه کولای شو ، بل به هملته کار ته نږدې وو ، له دې ستړیا به خلاص وو ، خبره مې پسې وغځوله: ستا که زړه تنګېدهٔ ؛ نو کلي ته به راځې ، نور بیا خپله بلدیږې.

هغې وویل: سمه ده زویه ، بس چې ستاسو خوښه وي ، نور به خدای خیر کړي.

غوښتل مې پورته شم ، د خنک کوټې ته لاړ شم ، چې د هیلې زنګ راغی.

قطع مې کړ ، تر خنک کوټې ته واوښتم او بیا مې زنګ ورته وکړ.

له اوکې سره سم یې وویل: مور دې تاته ښځه نه کوي ؟

ومې خندل او ځواب مې ورکړ: نه سلام ، نه پوښتنه ، سمدستي دا خبره ، خیرت خو دی ؟

هغې هم وخندل او بیا یې وویل: زموږ له ګاونډیانو داسې د دریا غږ راځي ، نن یې هلک ته کوژده کړي.

په خندا مې ورته وویل: زه ښځه نه کوم ، نه مې خوښیږي ، هسې نه بدرنګه راباندې واوړي.

هغې وویل: بس ښکلو ته کېنهٔ ، چې زوړ شې او بیا یې زیاته کړهٔ: اې ریښتیا سلام ، څنګه یې ؟ کارونه دې ښه دي ؟

ومې خندل ، د سلام ځواب مې ورکړ او بیا مې ورته وویل: شکر دی ، تر اوسه خو بیخي ښه دي. ته څنګه یې ؟

شکر الحمدالله یې وویل.

ورته مې وویل: هیلو پوهېږې ، لږ وړاندې ما او مور مې هم پر ښځه بحث وکړ..

هغې وویل: ولې ښځه درته کوي ؟

نه مې وکړل او بیا مې په ښار کې د کور نیولو خبره ورته وکړه.

اوږد اهووو یې وکړل ، راته یې وویل: دا خو به په یوه ښار کې شو او ریښتیا کومه ځای کې ؟

هماغه د کاریګر راښودلی ځای مې ورته وښود.

هغې په بیره وویل: الهاموو ، ته پوهېږې ، په هماغه کوڅه کې ، خبره یې لا خلاصه کړې نه وه ، چې مور مې کوټې ته راننواتۀ.

او راته یې وویل: زویه ، د سپلۍ مور ته خو راته زنګ ووهۀ ، پوښتنه به یې وکړم ، دلته چې راغلي وه ، ناروغه وه.

هیلې ته مې ورو وویل: مور ده ، ته لږ صبر زه بیا زنګ درته کوم.

مور ته مې وویل: سمه ده ، د ترور خاوند شمېره مې رواړوله او زنګ مې ورته ووهۀ ، چې اوکې یې کړ. سلام مې وکړ ، پوښتنه مو سره وکړۀ ، بیا مې ورته ووې: مور مې له ترور سره غږېږي ، که درسره نږدې وي ؟

هغه وویل: همدلته ده ، هن ورسره وغږېږئ. له ترور سره مې هم پوښتنه وکړۀ ، نور مې موبایل مور ته ورکړ او زه د باندې راوواتم.

اسمان ته مې وکتل هېڅ لور ته ستوري نه ښکاره کېدل ، توره وریځ خواره وه ، لکه باران ته یې چې ځان اماده کړی وي.

د کور لویې دروازې ته نږدې ، پیشوګانې سره په جنګ شوې ، سپې ورمنډه کړۀ ، ژر په دیوال ترې وختلې. سپی راغی ، لکۍ یې وښوروله ، له ما تاوو ، تاوو شو او خملاست.

شېبه وروسته مې مور له کوټې راوواتۀ او راته یې وویل: بس نور یې ترې کټ کړۀ ، ورسره وغږېدم.

اړیکه مې پرې کړۀ ، بېرته کوټې ته لاړم او هیلې ته مې زنګ وکړ.

موبایل یې چې اوکې کړ ، ورته مې وویل: وبخښۀ ، مور مې راغلۀ ، ترور مې لږ ناروغه ده ، هغې ته مې ورته زنګ وکړ.

هغې وويل: خير کومه خبره نه ده ، ښه دې وکړل او بيا يې خبره وغځوله: تا چې کومه کوڅه وښودله ، په هغه کې زما د ترور کور هم دی.

په حيرانۍ مې وويل: ريښتيا ؟

هغې وويل: هو والا ، چې درنه پاتې نشي ، هماغه کور ونيسئ.

له خوشالۍ خبرې راڅخه ورکې شوې ، نه پوهېدم ، چې اوس څه ووايم.

هغې بيا وويل: څنګه داسې غلی شوې ؟

ځواب مې ورکړ: ذهن مې يې نه اخلي ، دا څه عجبه خبره ده ، څومره خوند به وکړي.

ويې خندل او راته يې ووې: د خدای کارونو ته ګوره ، اوس به زه د ترور دوی په بهانه درځم او له تا درسره به وينم.

ومې خندل او بيا مې ورته وويل: داسې نه وي ، چې ته بيا نازونه کوې ، نه راځې.

نه يې وويل او خبره يې وغځوله: که نور اوزګاره نه وم ؛ نو هره جمعه خو به درځم.

سمه ده مې ووې ، چې بله خبره مې کوله ؛ نو هغې وويل: اې ، مور مې لږ نن ناروغه ده ، ورځم هسې نه ، چې څه شی غواړي.

ورته مې وويل: هله ، ورځه ، ښکلي او ارامه شپه ولرې.

هغې د معمول په څېر د خدای پامانۍ وروستۍ خبرې داسې وکړې.

سترګې دې ښکلوم ، ښه شپه ولرې.

خواږه خوبونه ګورۀ ، چې بغېر له ما دې بل څوک په خوب رانشي ؛ ګني وژنم دې!

او اړيکه مو پرې کړۀ.

هملته په توشکه اوږد وغځېدم او سترګې مې د کوټې په چت کې وګنډلې.

سر له اوسه مې پلانونه نيول ، له هيلو سره به څنګه وينم ؟ څومره خوند به کوي. زه به د هرې جمعې ورځې لپاره شېبې شمارم او ډالۍ به ورته اخلم.

تر ډېره همدې د خوند فکرونو په غېږ کې نيولی وم.

د خوب راباندې زور شو ، کمپله مې په ځان واچوله او څملاستم.

څو شېبې وروسته خوب وړی وم او سهار چې راپورته شوم ؛ نو د بېګا غونډې اسمان وريځ وه ، په زړه کې مې يو ډول خوښي احساسوله.

د سهار چای چې تيار شو ؛ نو په بيړه مې وخښه ، تلوسه مې وه ، تر څو د کرايې پوښتنه وکړم او کور وګورو.

مور ته مې وويل: زما نن لږ کار ډېر دی ، وختي ځم.

هغې وويل: زويه ، ورځه خدای دې وساته.

رخصت مې واخيست او له کور راووتم. سرک ته چې ورسيدم ؛ نو يو موټر ګروپونه راکړل ، په لاس مې اشاره ورکړه ، ودارېده.

موټر ته پورته شوم ، لږ مزل به مو نه وي کړی ، چې نرى باران شروع شو.

د موټر شيشې خوالې شوې ، د باندې څه نه ترې ښکاره کېدل ، موټروان به په بيړه خپل دسمال د مخ په لويه شيشه راکش.

تر ښاره پورې باران ونه دارېده ، چې له موټر ښکته شوم ؛ نو د رېشکې والا سره تر شرکت پورې لاړم.

شرکت ته چې ننواتم ؛ نو سيده په هماغه کاريګر پسې ورغلم ، کوم چې د کور په اړه راته ويلي وو. په کار لګيا وه ، سلام مې وکړ.

ځواب يې راکړ او مخکې له دې چې پوښتنه وکړم ، هغه پخپله وويل: هغه د کور والا سره وغږېدم ، څلور زره کرايه يې ښودله ؛ خو چې خپله ورسره ټينګ شې ، کېدای شي درې زرو ته راشي. ورته مې وويل: سمه ده ، مشکل نشته ، زه د شرکت مالک ته وايم ، بيا به لاړ شو ، کور به ګورو.

ښه يې وکړل او ترې روان شوم.

دفتر ته چې لاړم ؛ نو مالک ته مې خبره وکړه. هغه وويل: ستونزه نشته ، لاړ شئ ، کور وګورئ.

لږ مې کار وکړ او نور مې کاريګر له ځان سره کړ ، د کور ليدو ته ورغلو.

د کور څښتن کونج په کونج پکې وګرځولم او بيا اخېر په درې نيم زره افغانۍ سره جوړ شوو.

ورته مې وویل: کله کېږه ورته راوړو ؟

هغه وویل: زما له خوا نور ستونزه نشته ، چې نن ورته راځئ هم ؛ خو یو خط به ولیکو.

د مشورې لپاره مې بیا هم مشر ورور ته زنګ وکړ او خبره مې ورسره شریکه کړه.

هغه وویل: په دې کې نور د ګوتو وهل نشته ، بیخي مناسب ځای دی ، بس ورسره خلاصه یې کړه.

سمه ده مې وویل او اړیکه مو پرې کړه.

د کور کرایه کولو چې کوم شرایط دي ، پر هغه مو یو خط ولیکه او د کور څښتن د داوزې کیلي ماته راکړې.

موږ دواړه بېرته خپل کار ځای ته راغلو.

ټوله ورځ مې پر دې سوچونه وهل ، چې زما خو په کلي کې پیدایښت شوی ، خاپوړې مې کړي ، هملته رالوی شوی یم ، ملګري او خپلوان ، ددې پرې ښودل خو هم سخت دي.

بیا به مې د هیلې هغه خبرې سترګو ته ودارېدې ، چې ویل یې: همدا کور ونیسئ ، چې درنه پاتې نشي ، زه به د ترور په بهانه ستا لیدو ته درځم.

د کار تر څنګ ورځ په همدې فکرونو کې تېره شوه ، ماښام چې راغلم ؛ نو مور مې لومړی د کور پوښتنه وکړه ؟

ورته مې وویل: مورې ورسره جوړ شوم ، خط مو ولیکه ، د کور کیلی یې راکړې ، چې نور کله ورته راځئ.

مشر ورور مې مخ راوړه او بیا یې وویل: اوس خو مو کور ونیوه ، هسې به هم څو ښه داده ، چې همدا سبا موټر بار کړو او کېږه یوسو.

مور مې وویل: هو زویه ، اوس خو مو هسې هم نیولی دی.

زه هم په ورته نظر وم.

ټولو همدا سبا د کډې بارولو پرېکړه وکړه.

مور مې وویل: یو موټر ته ښکاني ووایئ ، چې سبا به بیا نه پیدا کیږي.

کوچني ورور مې وویل: زما ملګرې شته ، زه به هغه ته زنګ وکړم ، خو بجې ورته وښیم ؟

ورته مې وویل: لس بجې ورته وښیۀ ، تر هغه به مورِ د کور سامان سره وترو.

سمه ده یې وکړل او د زنګ لپاره د باندې ووت.

مور مې وویل: زه به نثار دوی خبر کړم ، هغوی مې د مور تره زامن او ګاونډیان وه.

سمه ده مې ورته وویل. دا چې ماښام تیاره وه ؛ نو د هغوی تر دروازې پورې ورسره لاړم ، مور چې مې ورننواتۀ ، زه بېرته کور ته راغلم.

مشر ورور مې وویل: دا ډېره ښۀ شوه ، د ښار ژوند ډېرې اسانتیاوې لري ، بله دا ، چې څوک د چا په کار کې کار نه لري.

دلته کلي کې خو سل ، زر لانجې دي ، د څمکو خبرې دي ،ماشومان دي ، سپې دي او هسې دا ، داسې دا ، ټول ژوند مو په لانجو کې تېر شو ، ایله به مو دماغ ارام شي.

ورته مې وویل: هو کنه ، نور خو له غم او ښادۍ هسې هم نه کیږي ، هغه خو به کوو.

شپه وروسته مې له مور سره تره زامن او ښځې یې هم راغلې.

وټساپ مې خلاص کړ او هیلې ته مې مسېج وکړ ، چې زموږ کره مېلمانه دي ، شاید نن شپه زنګ ونشم کړی.

د مور تره زامنو مو ویل: څه مشکل دي ، چې داسې یو ناڅاپه ځئ ؟

ورته مو وویل: مشکل د خدای نه پیدا کوي ، هماغه کیسه مو وکړۀ ، چې ریښتیا وه.

د شپې تر ناوخته ناست وه ، بیا هغوی لاړل او موږ هم څملاستو.

سهار وختي چې پاڅېدو ؛ نو د کور شیانو په راټولولو لګیا شو.

لمر تازه څرک وهۀ ، چې د مور تره زامن او ښځې یې راغلل.

یو ځای راسره لګیا شول.

ماته دغه حالت لکه یو خوب داسې وه ، دیوال ، کوټه ، ونه او هر څه سره مو د ژوند یوه خاطره تړلي وه.

د کلي پرېښودل سخت وه ؛ خو ما به ځان ته په دې ډاډ ورکاوه ، چې هلته به هیلې ته نږدې وم او ورسره به ګورم.

مور مې په پخپله کوټه کې اخته وه او خپلوان مو تر خنګ کوټه او برانډه کې ، شیان انګړ ته را ایستل.

مور چې مې له خپلې کوټې څخه پردې شیان ، جمع کول ؛ نو له سترګو څخه یې اوښکې روانې شوې.

ورغلم غېږه مې ترې تاوو کړۀ او ورته مې وویل: مورکې ، چې ته خپه وې ؛ نو بیخي ځو نه.

هغې د خپل ټیکري په پیڅکه اوښکې پاکې کړې او راته یې وویل: زویه ، خپه نه یم ، خو یو ځای چې دې شل ، دېرش کاله تېر وي او بیا یې پریږدې ؛ نو سخته وي.

ورته مې وویل: ته ژاړه مۀ ، لږ نه ډېر سخته وي ؛ خو بله چاره نشته ، تر کومه به داسې ژوند کوو ، باید اینده هم په نظر کې ونیسو.

په تندي یې ښکل کړم ، بیا یې راته وویل: نه ژاړم ، هله شیان ټولوئ ، چې موټر به راشي.

ورته مې ووې: ته راځۀ ، د باندې په کټ کې کېنۀ ، ستړې کېږې ، کار موږ کوو ؛ خو هغې ویل: نه ، ځان نه ستړی کوم ، په ارامه دغه شیان را لرې کوم ، تاسو یې شکوئ.

نور مې ټینګار ونه کړ ، کوچني ورور ته مې غږ کړ ، چې راشه دغه صندوقونه د باندې وباسو ، په بیړه راغی ، انګړ ته مو وویستل.

تقریباً څه کم لس بجې به وې ، چې د کور ټول شیان مو په انګړ کې تیار کیښودل.

د مور تره ښځه مې هم خپه وه ، ویل یې: هسې نه چې لاړ شئ ؛ نو هماغه طرف مو شي او موږ هېر کړئ.

ورته مې وویل: نه ولې ، خدای دې نه کړي ، ولې به مو هېروو ، دا خو مو خپل ځای دی ، له کلي څخه زموږ چېرته کېږي ، چې بله خبره مې کوله ؛ نو مور مې وویل: که خوښ وي او که خپه ، چې زما زړه تنګېدۀ ؛ نو کلي ته به مې راولي.

هغوی ورته وویل: افرین ، چې زړه دې تنګېده ؛ نو خپله ترې راځۀ.

ما چې خبرې ته خوله جوړوله ؛ نو بهر دروازې ته موټر هارن وکړ•

کوچنی ورور مې په منډه ورغی ، چې دروازه یې خلاص کړه او د باندې یې وکتل ؛ نو مخ یې موږ رواړوۀ او ویې ویل: موټر راغلی دی ، وایي ، چې سامان مو راباسئ.

د خپلوانو په شمول موږ ټول لګیا شو ، یوولس بجې به وې ، چې موټر مو بار کړ او کور خالي شو.

نثار چې د مور د تره زوی مې وه ، وویل: میوند دې هغه موټر والا سره کېني ، زه به تاسو خپل موټر کې ورسوم.

هغه کور ته لاړ موټر یې راوویست او مور مې له ښځو سره په ژاړه خدای پاماني وکړۀ ، د کلي نور خلک هم د باندې ولاړ وه او دا پوښتنه یې کوله ، چېرته ځئ ، تاسو خو بیخي څه ویلي نه دي ؟

هماغه د ناڅاپه پرېکړې خبره مو ورته وکړۀ او ورته مو وویل: نور مو همدا کلی دی ، ځو او راځو به.

له هغوی سره د خدای پاماني پر مهال مې مشر او کوچني ورور دواړو وژاړل ، کلیوالو چې دوی ولیدل ؛ نو یوې خواته ودارېدل او په ژاړه شول..

ما نور ددې صحنې د لیدو تاب نه لرۀ ، مور دوی ته مې وویل: هله موټر ته پورته کېږئ ، چې ځو.

د سامان موټر حرکت وکړ او موږ ورپسې شو ، چې له خامه سرک څخه پاخه سرک ته موټر پورته شو ، په شا مې د کور طرف او کلیوالو ته راوکتل ، بې احتیاره مې له سترګو اوښکې روانې شوې...

تر هغه مې کور ته راکتل ، چې راڅخه پناه شو.

د ښیښې خواته مې مخ واړوۀ ، له مور څخه مې پټې اوښکې په سمال وچې کړې.

مشر ورور او نثار دواړه لګیا وو ، د ښار ژوند په اړه یې خبرې کولې.

زه لکه بې ساه جسد داسې ناست وم ، د سرک ښې خواته کورونه او هټۍ (دوکانونو) ته مې کتل او موټر په تېزۍ سره روان وه.

مور مې هم تر ډېره بیخي غلې وه. د پام بدلولو لپاره مې یې وویل: مورې ، ډېر ښه کور دی ، اوبه او برق هم لري ، لمر لاندې په برانډه کې لګیږي.

هغې وویل: اوبه چې په کور کې وي ؛ نو پاچاهي ده ، له برق خو داسې وېرېږم ، چې ومې نه نیسي.

په خندل مې وویل: داسې برق نه دی ، ډېر ښه یې جوړ دی ، په بازار کې یې ټول خلک استعمالوي ، ما چې خبره غځوله ؛ نو د ښار مرکزي چوک ته رسیدلي وو ، کوچني ورور مې زنګ راووهۀ او ویې ویل: ستاسو موټر راځخه ورک شو ، کومې خواته تاوو شوو ؟

ځای مې ورته وښودۀ او لږ وړاندې مور هم ورته ودارېدو ، چې راورسیدل یو ځای روان شوو.

مور مې وویل: همدلته له ننوایۍ څخه ډوډۍ هم راواخلئ ، ناوخت دی ، اوس خو نه پخیږي. ورته مې وویل: مورې ، د کور مخامخ مو ننوایي ده ، چې ورسېږو ، هر څه به وکړو ، ته زړه مه وهۀ.

لږه شېبه وروسته کور ته راورسیدو.

له موټر شکته شوم او دروازه مې خلاصه کړۀ.

په کوځه کې څو ماشومان ولاړ وو ، راغلل لاس یې راکړ او بیا یې راته وویل: ماما څوګ یئ ؟ دې کور ته مو کډه راغله ؟

په خندا کې مې ورته وویل: هو نور دغه کور زموږ دی ، تاسو ډوډۍ راکوئ او کنه ؟

یو په بیړه وویل: هو ، راځئ موږ اوس ډوډۍ وخوړۀ.

په غمبوري کې مې کش کړ او ورته مې ووې ، موږ خوړلي ده ، تاسو لوبې وکړئ ، هغوی د کوځې بر طرف ته منډه کړۀ او زه ترې کور ته راننواتم.

کوچني ورور ته مې پیسې ورکړې او ورته مې وویل: ته اول د ډوډۍ غم وکړه ، موټر به بیا خالي کړو.

مشر ورور ، نثار او بل موټروان یوې کوټې او زه مور مې بلې کوټې ته لاړو.

مور ته مې توشکه واچوله ، چې کېناسته ؛ نو راته یې وویل: زویه ، ډېر ښکلی کوچنی کور دی ، لکه مور ته یې چې جوړ کړی وي.

په خندا مې وویل: هو کنه ، ما په اوله ورځ هغه چا چې را برابر کړی وه هم دا خبره وکړه..

هغه له ځای پورته کېدهٔ ویې ویل: زه به دغه شیان سره سم وکړهٔ. بېرته مې کېنوله او ورته مې وویل: ډوډۍ چې وخورو او موټروان رخصت کړو ؛ نو ټول لګیا کېږو.

شېبه وروسته میوند وچه ډوډۍ او پخه لوبیا راوړهٔ.

په بیره مو ځانونه ماړه کړل او موټر مو خالي کړ.

موټروان وویل: زه درسره کومک شم ، مشر ورور مې مننه ترې وکړه او ورته یې وویل: تاته اجازه ده ، کارونه به لرې. هغه مو رخصت کړ ، نثار ته مو هم زیات وویل ، چې ته نور ورځهٔ ؛ خو شله وه ، چې زه شیان درسره برابروم.

ټول په شریک سره لګیا شوو.

تر مزدیګره مو هر څه برابر کړل ؛ خو سم یې ستړي کړو.

نثار وویل: زه ځم ، لږ سودا هم اخلم ، ستاسو که څه پکار وي ؛ نو درته راوړم یې.

مننه مو ترې وکړهٔ او رخصت مو کړ.

ورځ تېره او شپه شوه.

له ډوډۍ وروسته مې مور وویل: زه خو وختي ویده کېږم ، داسې ستړې یم ، چې نور د یوې خبرې طاقت هم نه لرم.

ځای مې ورته برابر کړ او کوچني ورور مې کمپله پرې واچوله.

مشر ورور او میوند چای ته کېناستل او زه هیلې سره د خبرو کولو لپاره بلې کوټې ته لاړم.

زنګ مې ورته وکړ ؛ خو پورته يې نه کړ. وټساپ مې يې وکاته افلاين وه.

لږ وروسته يې زنګ وکړ ، چې اوکې مې کړ ؛ نو له سلام وروسته يې وويل: تا چې زنګ وکړ ، د مور سره کوټه کې وم.

عليکم سلام مې وکړل او بيا مې وويل: کومه خبره نه ده ؛ خو نن دې ټوله ورځ زنګ ام ونه کړ.

هغې وويل: يو نن خو نه ، چې شرکت ته تللی يې ؛ نو د ورځې مو زنګ سره نه دی کړی ، ځکه ته په کار کې مصروف وې او بيا يې خبره وغځوله: اې ريښتيا کور مو څنګه کړ ؟

ورته مې وويل: زما غږ له لرې څخه درځي او که له نږدې ؟

په خندا يې وويل: زه څه کمپيوټر يم ، چې پته راته ولګيږي.

ورته مې ووې: هيلو زموږ کډه نن ښار ته راغلۀ ، ما چې بله خبره کوله ، هغې وويل: يو خو هر وخت رېشخند مه وهۀ. څنګه دې وکړل په کور باندې ؟

ورته مې وويل: ولې به رېشخند وهم ، ريښتيا وايم ، پرون ورسره جوړ شوم او بېګا مو پلان ونيوه ، نن راغلو.

هغې غلي وويل: الهامووو ته پوهېږې ، زه هم دلته د ترور دوی کره راغلې يم.

په خندا مې وويل: ډېره تکړه يې ، ما چې زنګ وکړ ، هغه وخت له مور سره ناسته وې اوس بيا د ترور کره ورسيدې.

له خندا شنه شوه او بيا يې وويل: وی ريښتيا لکه چې ګير شوم.

ورته مې ووې: نه وايۀ ، وايه.

هماغسې يې خندل او بيا يې وويل: الهامووو نوی کور او ښار ته راتګ مو بختور شۀ ، خوند يې وکړ.

مننه مې ترې وکړۀ ، چې بله خبره مې کوله ، هغه راوړاندې شوه: تاسو ته ښار ښه دی ، دومره کورنۍ نه يئ ، بل به د کلي له لانجو خلاص شئ ، ايله به مو ژوند ارام شي.

ورتــه مــې وويــل: پــه لومړنيــو وختونــو کــې بــه لــږ ســخته وي ، ځکــه پــه کلــي کــې پيــدا او رالوی شو ، يو ناڅاپه يې پرېښول زور غواړي ؛ خو ورو ، ورو به دلته هم بلد شو.

هغې وويل: هو نو ، حتماً يو نابلد ځای ته راتګ په اول کې لږ سخت وي ؛ خو چې څه موده تېره کړئ او ژوند يې ووينئ ؛ نو بيا به مو خوښ شي.

هو مې وکړل. هغه بيا له خندا شنه شوه او راته يې ووې: ته څه عجبه يې ، په دې دومره موده کې مې نن دورغ درته ووې ، چې زه هم د ترور کره يم ، هغه دې هم راپسې ريښتيا کړل.

په خندل مې وويل: مکسد چې پام دې وي ، بل وخت يې ونه وايې.

توبه يې وکړه او بيا يې خبره وغځوله: همدا شرم بس وه ، بيا خو څه لېونۍ نه يم ، هغه متل يې څه ښه کړی ، چې د دروغو مزل لنډ وي.

هغې نور څه ويل ، چې خبره مې يې پرېکړه ، اوس دا خبرې پريږدئ ، دا ووايئ ، چې په ريښتيا کله راځې ، ياده شوي مې يې ؟

لږ غلي شوه او بيا يې وويل: زما هم يادېږې ، زړه مې درته وچ دی ، هڅه کوم ، چې د جمعې په ورځ درشم ، نن د دريم ورځ ده.

ورته مې ووې: اې ريښتيا ، چې راشې ؛ نو څنګه به سره وينو ؟

هغې ځواب راکړ: تر هغه ډېر وخت شته ، په شريکه به فکر پرې وکړو او يوه لاره به جوړه کړو ، بيا يې وخندل او زياته يې کړه: که نور ونشوه ، کور ته درځم ، مور ته دې وايم ، د موسسې والا يم ، نوي کورنۍ چې دلته ښار ته راشي ، مور يې حالت معلوموو.

ومې خندل ، ورته مې وويل: والا دا تر ټولو ښه لاره وي ، څوک له تانه پوښتنه کوي ، چې څه کوې او دلته ولې راغلې يې ؟

هغې وويل: سيي ده ، داسې اسانه درته معلومه شوه او خوشال شوې.

ورته مې ووې: نور نه پوهېږم ؛ خو چې پاتې نشې ، حتماً راشئ ، که د ليدو کومه چاره جوړه نه شوه ، نور مې دغه لنډۍ ورته وويله:

"که ديدن وشي که ونه شي

هسې د يار کوځې ته تلل مزه کوينه"

هغې په دغه لنډۍ ځواب راکړ:

"ځوګ چې د يار کوځې ته لاړ شي

چې بې ديدنه ترې راځي نو مړ دې شينه"

او بيا يې وويل: د ليدو لپاره ډېرې بهانې او لارې شته اوس ځان مه غلطوهٔ.

ومې خندل او بيا مې ورته وويل: تا دې خداى دومره تکړه کړي ، چې يو ځل راشې ، نور خو زه نغد چغد يم.

په خندا يې وويل: بيا دې له اوله خبروم ، په لارو کې فرشونه واچوهٔ ، ګلان پرې وشيندهٔ ، چې خلکو ته خو پته ولګيږي ، پريږدهٔ چې ټول عالم خبر شي ، څه يوه ورځ خو نه ده.

ورته مې وويل: هو کنه ، په هغه ورځ له والي سره غږېږم ، چې ټولې لارې بندې کړي ، د ټولو راډيوګانو او تلويزيونونو کسان راغواړم.

څه يې ويل خندا واخيسته او خبره يې پاتې شوه.

ساعت ته مې وکتل ، څه کم دوولس بجې وې ، ورته مې وويل: هيلو ، ناوخت دى ويده کېږو نه ؟

هغې وويل: هله ويده کېږو ، زما خو پام هم نه وه ، ته به ستړى يې ، بيا ان شاءالله غږېږو.

خداى په اماني مو وکړهٔ او اړيکه مو پرېکړهٔ.

همل‌ته په توشکه اوږد وغځېدم ، کمپله مې په سر راکش کړهٔ.

تر ډېره مې د هيلو سره د ليدو سوچونه کول او پر ذهن مې ناسته وه ، نه پوهېږم څو بجې به وې ، چې خوب وړى وم.

سهار مور راباندې غږ وکړ: هله ناوخت شوى دى ، سمدستي پورته کېږهٔ ، چې غلى نشې.

سترګې مې وغړولې ، کوټه راته نااشنا غوندې ښکاره شوه ، حيران شوم.

څو شېبې بيخي ګنګس وم ، وروسته مې پام شو ، چې له کلي خو ښار ته راغلي يو.

اودس او لمونځ مې وکړل ، د مور کوټې ته ورغلم ، چای يې تيار کړۀ و.

مشـر ورور مـې وويـل: سـهار چـې لمانځـه تـه راپورتـه شـوم ؛ نـو مـا ويـل کـه بـل چېرتـه مېلمه يم ، ما هم ورته هماغه خبره وکړۀ.

پـه نـوي کـور کـې مـې پـه کلـي پسـې زړه خپـه و ، لکـه چـا چـې پـه زور راوسـتی وم ، هـېڅ شي خوند نه راکاوه.

د مـور او ورونـو مـې هـم زړونـه تنـګ وو ؛ خـو همـدا خبـره بـه مـو سـره کولـه ، چـې څـو ورځې وروسته خپل ښه کېږو.

مور مې وويل: کور نوی دی ، څو ورځې به همداسې وئ ، بيا خپل ښه کېږئ.

چای مې وڅښۀ او کار ته لاړم.

د شرکت مالک ته مې وويل: پرون تر ماښامه اوزګار نه شوم ، ګني راتلم.

هغـه لـومړی مبـارکي راکـړۀ او بيـا يـې وويـل: زنـګ دې کـړی وه ، نـور راتـګ تـه څـه ضرورت وه ، نن به هم نه راتلې ، کور به مو سره برابر کړی وه.

مننه مې وکړۀ ، بيا مې ورته وويل: پرون مو ټول کار خلاص کړ.

سمه ده يې وويل ، د باندې ووت او زه پخپل کار لګيا شوم ، ورځ تېره شوه.

ماښـام چـې کـور تـه لاړم ؛ نـو لـه لمانځـه وروسـته مـې مـور تـه وويـل: ډوډۍ څـه شـی راوړم ؟

هغـې وويـل: سـهار د ګاونـډيانو لـر د سـتر عمـر ښـځه راغلـي وه ، تـر ناوخـت راسـره وه ، ويـل يـې ، چـې مـوږ نـه وو خبـر ، بېګـا پـه ډوډۍ بانـدې ماشـومان ووې ، چـې تـر څنـګ کور ته کډه راغلي ده.

ښه مې وکړل.

مور بيا وويل: اوس څه شی مه راوړۀ ، هغوی ډوډۍ کړې ده.

موږ په همدې خبرو لګيا وه ، چې ښځه بيا راغلۀ.

مـور مـې لـه کـوټې د بانـدې ور وواتـه ، هغـې ورتـه وویـل: دوډۍ دلتـه هـم راوړی شـو ؛ خـو راځـئ هلتـه بـه سـړي حجـره کې کېني او مـوږ تاسـې کـور کې ، لږ بـه مـو فکـر بـدل شي ، چې له کلي ښار ته څوک نوي راشي ؛ نو دا هر څه بدل ورته ښکاري.

مور مې ورته وويل: د ډوډۍ هېڅ ضرورت نه وه ، تاته مې سهار هم ووې.

هغې وويـل: پـرون مـوږ بايـد ټـول کـور درسـره برابـر کـړی وای ؛ خـو خبـر نـه وو ، ډوډۍ دومـره خبـره نـه ده ، چې سـره وپېژنـو او بيـا مې يـې مـور تـه ووې: هلـه ، زامنـو تـه دې غږ کړه ، چې ځو.

هغـه وړانـدې مـوږ ورپسـې شـوو ، د بانـدې تقريبـاً يـو لـس کـالن هلـک ولاړ وه ، سـتړي مشي راسره وکړل او راته يې وويل: راځئ.

مور دوی مې کور ته او موږ حجرې ته لاړو.

## د دويمې برخې پای